صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

مباحثات

بروز منگل مورخہ 8 جولائی 1997

(بمطابق 2 ربیع الاول 1418 ہجری)

جلد 7 شمارہ 1

سرکاری رپورٹ

مندرجات

مندرجات	صفحہ نمبر
1۔ تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ	1
2۔ اراکین اسمبلی کی رخصت	2
3۔ صدر نشینوں کی جماعت	2
4۔ درخواستوں کے بارے میں کمیٹی کی تشکیل	2
5۔ توجہ دلاؤ نوٹس	22
6۔ مسودات قانون	45

صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

اسمبلی کا اجلاس، اسمبلی چیمبر پشاور میں بروز منگل مورخہ 8 جولائی 1997 بمطابق 2 ربیع الاول 1418ھ صبح دس بجکر تیرہ منٹ پر منعقد ہوا۔

جناب سپیکر، ہدایت اللہ چمکنی مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔

تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ

اَعُوذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیطٰنِ الرَّجِیم ہ بِسمِ اللّٰہِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیم ہ

وَیَدْعُ الْاِنْسَانُ بِالشَّرِّ دُعَآءَہٗ بِالْخَیْرِ وَکَانَ الْاِنْسَانُ عَجُوْلاً ہ وَجَعَلْنَا الَّیْلَ وَالنَّھَارَ اٰیَتَیْنِ فَمَحَوْنَآ اٰیَۃَ الَّیْلِ وَجَعَلْنَآ اٰیَۃَ النَّھَارِ مُبْصِرَۃً لِّتَبْتَغُوْا فَضْلاً مِّنْ رَّبِّکُمْ وَلِتَعْلَمُوْا عَدَدَ السِّنِیْنَ وَالْحِسَابَ ط وَکُلَّ شَیْءٍ فَصَّلْنٰہُ تَفْصِیْلاً ہ وَکُلَّ اِنْسَانٍ اَلْزَمْنٰہُ طٰٓئِرَہٗ فِیْ عُنُقِہٖ ط وَنُخْرِجُ لَہٗ یَوْمَ الْقِیٰمَۃِ کِتٰبًا یَّلْقٰہُ مَنْشُوْرًا ہ اِقْرَاْ کِتٰبَکَ ط کَفٰی بِنَفْسِکَ الْیَوْمَ عَلَیْکَ حَسِیْبًا ہ (سورہ بنی اسرائیل پارہ نمبر ۱۵ آیت نمبر ۱۱ تا ۱۴)

(ترجمہ) او بنی آدم! خپل خان له بدی هم دغسے په کلکه غواړی لکه چه نیکی غواړی او انسان ډیر پخوا راسے تلوار ګرندے دے او مونږ د شپے او ورځے نه دوه نښے جوړے کړی دی۔ نو د شپے نښه مو تته کړے ده او د ورځے نښه مو روښانه کړے ده چه تاسو پکښې د خپل پروردګار فضل اولټولے شئ او چه د کلونو شمیر او نور حساب درته معلومیږی او دغسے هر څیز مو ډیر واضحه او سرګنده بیان کړے دے او د هر بنی آدم عمل مونږ د هغه د غاړے امیل جوړ کړے دے او د قیامت په ورځ به ورته یوه اعمال نامه مخامخ کیږدو چه سپړلے به نے اووینی او ورته به اووئیلے شی چه واخله خپله اعمال نامه او اولولے. نن ته پخپله د خپل خان په حقله حساب کولو له یوا ګځے بس نے۔

اراکین اسمبلی کی رخصت

جناب سپیکر، درج ذیل اراکین اسمبلی نے رخصت کیلئے درخواستیں ارسال کی ہیں، جناب سید احمد خان صاحب، جناب وجیہہ الزمان صاحب اور جناب حبیب اللہ خان کنڈی صاحب از 8 جولائی 1997 تا اختتام اجلاس اور ارباب محمد ایوب جان صاحب 8 اور 9 جولائی 1997

Is it the desire of the House that leave may be granted to the Honourable Members?

(The motion was carried.)

صدر نشینوں کی جماعت

Mr. Speaker: In pursuance of sub rule (1) of rule 14 of the Provincial Assembly of North-West Frontier Province, Procedure and Conduct of Business Rules, 1988, I hereby nominate the following Members, in order of priority, to form a panel of Chairmen for the current Session:

1. Syed Ali Shah, MPA;
2. Mr. Raza Khan, MPA;
3. Mr. Akram Khan Durrani, MPA;
4. Mr. Walter Masih, MPA.

درخواستوں کے بارے میں کمیٹی کی تشکیل

Mr. Speaker: In pursuance of Rule 116 of the Provincial Assembly of North-West Frontier Province, Procedure and Conduct of

Business Rules, 1988, I hereby nominate a Committee on petitions comprising the following Members under the Chairmanship of Haji Muhammad Adeel, Deputy Speaker:-

1. Syed Ali Shah, MPA;
2. Haji Abdur Rehman Khan, MPA;
3. Mr. Humayun Saifullah Khan, MPA;
4. Haji Umer Khan, MPA;
5. Mr. Bashir Khan Umerzai, MPA;
6. Mr. Abdus Subhan Khan, MPA.

Mr. Najmuddin: Point of order, Sir.

جناب سپیکر: جناب!

جناب نجم الدین: سر! ما مخکښې د دے اسمبلۍ په فلور باندے دوه درے خله درخواست کړے وو۔ زمونږه د دیر ایریا چه خان له ډسټرکټ هم Declare شوے دے او Hard area د پاره چه کوهستان علاقه او د براول علاقه په هغے کښې شاملے وے، نن دوه درے سوه کسان د دے گیټ مخے ته راغلی دی۔ په دے فلور باندے زما سره منسټر صاحب دا وعده کړے وه چه زه به دا علاقه Hard area declare کوم۔ د دے نه مخکښې د فضلِ خق صاحب په وخت کښې هغے علاقے ته Special concession وو چه که دلته لسم پاس کس نه ملاوګیږی نو تاسو اتم پاس کس اولګوئ۔ د هغے نه پس د میر افضل خان صاحب د طرف نه آرډرونه شوی دی او زمونږ سره دی چه هغه Hard area declare شوے وه۔ بیا د هغے نه وروستو چه کوم حکومت راغے لیکن په دے

حکومت کښې دوئ هغه خایونه Hard area چه کالام غوندے خائے، هغه زمونږ نه مخکښې دے لیکن هلته زمونږ په علاقه کښې روډونه نشته دے، سکولونه د غرونو په سرونو کښې دی لیکن مونږ د نورو علاقو د خلقو سره میرټ نه شو کولے۔ زمونږ په هغه خبره باندے چه په دے اسمبلئ فلور باندے زه ستاسو په نوټس کښې راولم او زه به انشاء الله تحریک استحقاق هم راوړم او زه دا درخواست کوم جی چه کم از کم په دے خبره باندے زمونږ څه تسلی نه ده شوے نو زه د دے اسمبلئ نه احتجاجاً واک آوټ کوم خکه چه بهر زما قوم راغلے دے او زه په دے خبره باندے واک آوټ کوم۔

<u>جناب محمد ہاشم خان</u> (وزیر تعلیم)، جناب سپیکر صاحب! ما On the floor of the House دا نه دی وئیلی چه زه دا Hard area declare کوم خکه دا اختیار او دا قانون ما سره نشته۔ مونږ دے ټولو ممبرانو صاحبانو ته وایو او چه څوک څه وائی نو مونږ ورته وایو چه په دے به غور اوکړو که قانون او قاعده اجازت راکوی نو مونږ نے کوؤ او که قانون او قاعده اجازت نه راکوی نو زه پکښې څه یم جناب، چه زه به هر چا له خپله خپله حلقه Hard area declare کوم۔ دا که ټولو ته د Hard area دا قصه شروع کړه نو زما خیال دے چه په شته هاؤس کښې به یو ایم پی اے صاحب هم داسے نه وی چه هغه به خپله حلقه Hard area نه Declare کوی۔ اول به زه اووایم چه زما په حلقه کښې داسے کلی دی، میرے دی، لرے لرے خایونه دی او هغے ته استاذانے نه خی نو هغه خلق به هم ما ته اووائی چه Hard area declare کړه، دا ستا په اختیار کښې شته۔ نو دا خو یو داسے بکس دے چه هغه کهلاؤ شو نو دا بیا نه بندیږی۔ ما بے شکه دا وئیلی دی چه مونږه به پرے غور اوکړو۔ اوس هم زه دوئ ته وایم چه

انشاءاللہ تعالیٰ غور به پرے اوکړو۔

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! دا Hard area واقعی یوه مسئله غوندے پیدا شوے ده ځکه چه زمونږه د ټولو حلقے داسے دی چه هغه په Hard areas کښې ټولے راځی۔ زما په خپل کلی کښې د جینکو هائی سکول دے، درے کاله اوشو جناب سپیکر صاحب، نه پکښې هیډ ماسټره شته او نه ایس ای ټی، پکښې یو کس هم نشته۔ نو زما خیال دے چه په Hard areas کښې زمونږ دا بهرنۍ علاقے ټولے راځی که زیات نه زیات پکښې نه راځی نو دا لوکل مردان، چارسده یا نوښار پکښې نه راځی‌خو بهرحال د دے د پاره پکار دا ده چه دوئ داسے یوه کمیټی شانتے جوړه کړی چه څه کسان د اپوزیشن نه واخلی او څه د حکومت نه او کینی په دے باندے چه څه حل نے اوځی۔ که دغسے نه وی نو بیا خو د هاشم خان خبره هم ټهیک ده چه هر سړے به وائی چه زما حلقه دِ Hard area declare کړے شی۔ د بلے غاړے نه به داسے وی چه هغه به واقعی په Hard areas کښې راځی او هغه به په هغے کښې را نه شی، هغوی سره به زیاتے اوشی۔ نو زما تجویز دا دے چه د دے د پاره دوئ یوه کمیټی جوړه کړی چه هغوی دا فیصله اوکړی چه کومے کومے علاقے په Hard areas کښې راوستل پکار دی او کومے پکار نه دی۔ شکریه۔

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! زه ستاسو په وساطت سره د وزیر تعلیم په خدمت کښې عرض کومه چه د نجم الدین خان خبره په دے بنیاد باندے، د هغه دا فریاد یا د هغه دا خبره یو Ground لری، Justified ground لری چه د هغه دا ایریا Already په Hard areas کښې شامله وه۔ د دوئ سره په سابقه حکومتونو کښې Continuously دا Concession راروان دے۔ اوس چه کله

حکومت دا پالیسی جوړوله نو پکار وه چه د محکمے اهلکارو د جناب منسټر صاحب په نوټس کښې دا خبره راوستے وے۔ د دے نه یو داسے د زړه یو جلن پیدا شی چه یو علاقه Alrady hard area declare ده او هغه ترے نه ختمه شی او نورے علاقے د Hard areas نه نه اوخی۔ ظاهره خبره ده چه د نجم الدین خان Constituents چه کوم دی، هغوی به په دے باندے هغه تنگوی چه مونږ Already حقدار وو او مونږ ته دا حق ملاؤ وو او مونږ د دے حق نه محرومه شو او نورشامل شو۔ نو دا د هغه د پاره یو گرانه خبره ده۔ د اسمبلئ اجلاس چه ختم شو او هغه واپس لاړو، نو حقیقتاً هلته جلسه جلوس شوی دی او جناب نجم الدین خان ورته دا وئیلی وو چه زه دا خل واپس لاړشم نو زه به د اسمبلئ په فلور باندے د سپیکر صاحب او د اسمبلئ په ذریعه باندے د حکومتِ وقت او خصوصاً د وزیر تعلیم توجه دے طرف ته راگرخوم۔ نو دا چونکه هغوی ته یو حق ملاؤ وو او یوه ښکاره خبره ده چه هغه حق اوس نشته دے۔ کله ورکړے شوے دے نورو علاقو ته او د هغوی نه واپس شوے دے؟ نو د هغه د پاره یو Difficult situation دے۔ زه ستاسو په وساطت سره جناب وزیر تعلیم ته درخواست کوم چه د هغه دا کوم Peculiar situation دے، په دے کښې په خصوصی همدردئ سره غور اوکړی۔

وزیر تعلیم: سپیکر صاحب! ما خو On the floor of the House مخکښې هم وئیلی وو، بی بی ناسته وه بلکه بی بی راته هغه وخت کښې اووئیل چه ټهیک شوه، مونږ به غور اوکړو۔ اوس هم وایم چه انشاء الله تعالیٰ مونږ به غور اوکړو حو ما سره دا اختیار نشته چه زه Hard area declare کړم یا Hard area declare شوے وی، هغه زه واپس کړم۔ دا خو د حکومت او خپلے

قاعدے او قانون، او کورئ جی، مونږ لکه کوم Hard areas declare کړی دی
په دے تیر شوی خایونو کښ، نو مونږ ورله پینځه کاله پیریډ ورکړے دے چه
په دے پینځه کاله پیریډ کښ به دغه استاذان، کوم مونږ بهرتی کړو، خان ترینډ
کوی او دغه کوالیفیکشن به دوئ پورا کوی د قاعدے، قانون او د ایجوکیشن
ډیپارټمنټ د طریقه کار مطابق۔ که په پینځو کالو کښ دوئ دا معیار پورا نه
کړو، امتحان نے ورنه کړو، پاس نه شو او سرټیفیکیټ د پی ټی سی ټریننګ
نے وا نه غستلو نو بیا به د دوئ هغه کنټریکټ ختمیږی۔ اوس هغه پخپله
وائی چه دا د فضلِ حق صاحب په وخت کښ شوے وو، اوس هغه مارشل لاء
کله ختمه شوے ده؟ په 1985 کښ خو مارشل لاء ختمه شوه او دا 1997 دے،
دولس کاله اوشو، دولس کاله۔ پته راته نشته چه اوس Hard area به جی کله
راسے جاری ساتلے شی، شل کاله، دیرش یا څلویښت کاله؟ اسمبلی د فیصله
اوکړی۔ که وائی چه پورا صوبه Hard areas declare شی نو ما ته پکښ څه
اعتراض نشته۔ جی یو اړخ ته وائی چه تعلیمی معیار ښه کړئ او بل اړخ ته
وائی چه نه مونږ به فیل استاذان اخلو۔ زه به درته جی د بټګرام یو مثال درکړم۔
Hard areas پکښ Declare شوی وو، داسے ټیچرز پکښ اغستلے شوی دی
Female side ته، چه هغه Under matric دی او داسے دی چه په هغے باندے د
ورلډ بینک خپل Observations وو که هغه مونږه دے ممبرانو صاحبانو ته
واوروو نو هغه هم د شرم او د افسوس خبره ده۔ پاتے شوه خبره د استاذانو د
بے چینئ او دوئ په دیر کښ جلسه او جلوس شروع کړی دی، هلته که سمه
خبره اوکړو نو بعضے خایونو کښ د چا Hold شته؟ Hold نے ختم شو۔ هغه
استاذان چه کوم تیر شوی درے کالو کښ سیاسی طور باندے بدل شوی وو او

ډیر لرے لاړل، هغوی خپل درے کاله Tenure پورا کړو او واپس راغلل۔ نور لاړل بل خایونو ته۔ اوس هغه استاذان، هغوی چه د چا گروپ وو، د چا Hold وو، هغوی د خپل خان جوړولو د پاره او د خپل سیاسی مقصد اغستلو د پاره هغوی بهر راوتلی دی سړکونو ته۔ بهانه څه کوی؟ چه زمونږ د گرمئ چهټیانے کمے شوے۔ ټهیک شوه، دا مونږ په فلور آف دی هاؤس دے ممبرانو صاحبانو ته مخکښ وئیلی وو چه په 365 days کښ 150 days به سبق وئیلی شی۔ اوس مونږ لږ لږ دا شے Increase کوؤ چه سکول Days دِ زیاتے شی۔ هغه استاذان دی، هغوی وائی چه مونږ سبق نه ښایو۔ نو اوس به هغوی تاسو ته -----

<u>جناب سپیکر</u>: هاشم خان! که تاسو ته یاد وی نو تاسو پکښ یوه خبره دا هم کړے وه که گرمی واقعی زیاته وی نو بیا به تاسو دا چهټیانے Extend کوئ۔

<u>وزیر تعلیم</u>: بالکل جی، په دیر کښ خو گرمی نشته۔ Upper area کښ -----

<u>جناب سپیکر</u>: نه، ما د دے خانے خبره کوله۔ ولے چه دلته بعض خایونه داسے دی چه نه پاټ شته، نه دیوال یا پکهے شته او واړه په نمر کښ ناست وی۔

<u>وزیر تعلیم</u>: سپیکر صاحب! دلته خو مونږ Proposal ورکړے دے چه 25th of August نه پس به سکولونه کهلاؤ یږی۔ سخکال موسم ښه وو نو مونږ تقریباً 13 جون پورے سکولونه چلول۔ چه کله گرمی شوه نو سکولونه بند شو۔ اوس په 25th of August به گورو چه که خیر وی او موسم ښه وو نو د دوئ بچو ته به انشاء الله سبق ښایو۔ سبا به دوئ ښه شهریان وی، دوئ به سبا زمونږ په خانے دلته ناست وی۔

<u>جناب سپیکر</u>: ملک جهانزیب خان۔

<u>ملک جهانزیب خان</u>: جناب سپیکر صاحب! زمونږه دیر Hard area declare

شوے دے۔ زمونږ دیر کښې زما په حلقه کښې په انتیس پوسټونو باندے انټرویو شوے ده۔ په انتیس کښې یو کس زما د حلقے اوشو او اتهانیس کسان د سوات نه راغلل۔ نو آخر زمونږ په علاقه کښې چه دا Backward area ده، بل د سوات د باچا صاحب او زمونږ د نواب صاحب په وخت کښې دا ډیر فرق وو، هلته تعلیم کیدو او زمونږ په دیر کښې تعلیم چا نه دے کړے۔ نو مونږ دا Special request کوؤ او پُر زُور مطالبه کوؤ چه دیر دِ Hard area declare شی۔

<u>جناب سپیکر</u>: زما خو خیال دا دے چه تر څو پورے چه د منسټر صاحب تعلق دے، نو هغوی خو تاسو ته ډیر په وضاحت سره اوونیل چه ما ته په دے شی هیڅ اعتراض نشته خو چونکه زه Competent authority نه یم چه یو خانے Hard area declare کړم او بل نه کړم۔ نو د هغوی مطلب دا دے چه دا مسئله به په خپل Cabinet meeting کښې Take up کړی او سوچ به پرے اوکړی چه که Possible کیدلے شی۔ داسے ستاسو خیال وو کنه جی؟

<u>وزیر تعلیم</u>: او جی۔

<u>جناب سپیکر</u>: که Possible کیدلے شی نو -----

<u>جناب نجم الدین</u>: سر! پوائنټ آف آرډر۔ سر! زما صرف یو درخواست دے، زه منسټر صاحب تنګول نه غواړم۔ دوئ چه دا کومه فیصله کړے ده چه چهتیانے ختم کړی دی، په دے مونږه د دوئ سره ملګری یو۔ چه څوک په دے کښې مداخلت کوی، مونږ بالکل جی ملګری یو، نورے د هم یو میاشت کمے کړی چه هلکان سبق اووائی او ښه کار چه کوی نو مونږ د هغے حمایت کوؤ۔ دا خبره د دے سره ټل نه ده که تیر Appointments شوی دی، زما په خانے باندے صاحبزاده طارق الله صاحب ایم پی اے وو او د جهانزیب خان په

خانے باندے بہرام خان وو، په دغه کښې هم زمونږ څخه مسئله نشته۔ زمونږه دا درخواست دے سر، چه دا ایریا د ډیر عمر نه جی، زما سره په ریکارډ باندے پراته دی چه Hard area declare ده او نوره چه کومه ایریا نه وه په نورو وختنو کښې، هغے له دوئ نن د Hard area status ورکړو او زمونږه هغه علاقه نے د مینځ نه اوویستله۔ په دے باندے زمونږ اعتراض دے او مونږ منسټر صاحب ته وایو چه تاسو د اسمبلئ ریکارډ راوغواړئ په هغه باندے Clear cut دا زما سره Commitment کړے دے چه اؤ، زه به کوهستان او دا ایریا Hard areas declare کومه۔ دا ما سره په دے اسمبلئ فلور باندے د منسټر صاحب وعده ده۔ زمونږ سره نے خبرے اوکړے۔ مونږ جناب، غریبانان یو، کم از کم دومره حده پورے خبره نه ده چه یو سړے کمزورے کوی۔ قسم په خدائے جی که یو کس هم د بل خانے نه خی او زمونږ په علاقه کښې هغه نوکری کوی۔ مونږ په تعلیمی لحاظ وروستو شوی یو او په هغے کښې لس لس کلو میټره د روډ نه علاوه هم پیدل لارے دی۔ زمونږ سوال دے جی په دے دِ دوئ مونږ سره خبره اوکړی۔

میاں مظفر شاہ: پوائنټ آف آرډر، سر۔ دا نجم الدین خان چه لګیا دے نو دا څه تحریک دے یا څه شے دے؟ چه دا دومره لونے تقریر پرے اوس اوشو۔

جناب نجم الدین: دا جناب، ډیره اهم مسئله ده۔ ما پرے واک آؤټ کړے دے۔ بیا منسټر صاحب رانستلے یم۔ زما خیال دا دے چه ----

جناب سپیکر: نجم الدین خان پرے واک آؤټ کړے دے نو هغه له به دا ورکوؤ، بالکل ----

جناب نجم الدین: اؤ جی، سلامت ما سره د اپوزیشن مشرانو واک آوټ کړے

دے-----

جناب سپیکر: او منسټر صاحب راوستلے دے۔ بیا دومره وخت خو به ورکوؤ میاں صاحب، داسے به نه کوؤ۔

جناب نجم الدین: او میاں مظفر شاه صاحب حو زمونږ جنرل سیکرټری هم پاتے شوے دے جی خو (تالیاں) عرض دا دے جی چه دے نورے خبرے په بجټ یا په بل څه باندے تقریرونه نه کوی خو چه کوم یو ټکے په مینځ کښ وائی او په مونږ باندے تنقید کوی، نو زمونږ حو مشر دے، زمونږ سره دِ گزاره کوی جی۔

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! زما په دے سلسله کښ عرض دا دے چه کومه منسټر صاحب خبره اوکړه، زه په ډیر افسوس سره وایمه چه دومره زیاته ذمه دارانه نه وه لکه څومره چه زما توقع وه۔ دا خبره جناب منسټر صاحب داسے Mix کړه۔ اوس د چهټیانو په سلسله کښ که ستاسو خیال وی، زما په خپل بجټ تقریر کښ دا اعتراض وو او تاسو ریکارډ کتلے شئ۔ زه په کومه څله باندے هلته بیا خلقو ته وایم چه تاسو راپاسئ د حکومت د دے پالیسئ خلاف ورزی اوکړئ۔ خو په دے کښ یو خبره شته۔ چه کله Technocrates که دا کارونه کوی، دا خبرے کوی نو خپله عوامی نمائندگان او وزیران په اعتماد کښ نه آخلی او د هغوی نه تپوس نه کوی۔ که حکومت له دا چهټیانے کمول وے نو حکومت له پالیسی سخکال ورکول پکار وو چه دے ته قوم ذهنی طور تیار وے۔ قوم خپلو بچو ته وائی، زه به د بی بی په خدمت کښ دا عرض کوم چه هغوی زما دا خبره لږه په مهربانئ سره واؤری نو زما دا یقین دے چه زما مسئله به حل شی۔ که فرض کړه تاسو یوه پالیسی ورکړئ،

عوامو ته یا مشرانو ته ورکړئ، جناب سپیکر، چه دا ډیرے زیاتے چهټیانے دی، مشتهر نے کړئ چه د دے نه د قوم د بچو زندگی تباه کیږی، تعلیمی حالت تباه کیږی، چه پلاران او ورونړه، بچی په دے باندے پوهه کړی۔ د استاذانو بیا دا مجال نشته چه هغوی په دے باندے هړتال اوکړی، هیڅ سوال نه پیدا کیږی۔ اوس All of a sudden چه کله د چهټئ ورخے شروع کیږی او په هغه ورځ باندے بچو ته پته اولگی او استاذان ورته وائی چه ځئ اوځئ۔ د استاذانو پکښ ډیر لونے لاس دے۔ دغه خان له یوه خبره ده، دے نه مونږه څه سیاسی فائده اوچتول نه غواړو۔ مونږ ستاسو په خدمت کښ ډیر احتراماً دا عرض کوؤ چه د دے حکومت نه د دے د مینډیټ په بنیاد باندے زمونږ دا یقین دے چه دا به بهتر پالیسی راوړی او په مضبوطئ سره به نے راوړی او چه راولی نو مونږ به ورسره امداد کوؤ۔ دا خبرے د ذهن نه لرے کړئ۔ کله چه منسټر صاحب جواب ورکوی نو دے له دِ Political touch نه ورکوی چه د سړی جذبات مجروح شی۔ ما خو یوه خبره دا کړے ده چه یوه علاقه کښ جناب سپیکر، یو رعایت وو او هغے علاقے نه ختم شو، بلے علاقے له ورکړے شو نو دا فطرتی خبره ده چه د هغے علاقے خلق به راپاسی۔ اوس پکښ نجم الدین خان بالکل تفریق اوکړو چه په دے خبرے باندے څوک احتجاج کوی، هغوی دلته راغلی دی او هغه خبره اوکړه او منسټر صاحب په خائے د دے چه دا Political touch ورته ملاؤ شوے وے، دا به نے ونیلی وے چه ټهیک ده، دا به مونږه اوګورو او اسمبلئ اجلاس ختم شوے دے، بجټ اجلاس، دومره زیات وخت هم نشته، مونږ به اوګورو او که حقیقتاً دوئ ته ملاؤ وی او دا وی نو څه چه د حکومت مروجه طریقه کار وی، هغه شانتے به مونږه

اوکړو۔ دا څه بده خبره نه وه۔ هیڅ قسم دا خبره کول، دا بچی د سکولونو راویستل، د دوئ زندگی تباه کول، دا یو قومی جرم دے او په دے قومی جرم کښ یو باشعوره او باضمیره انسان حصه نه شی اغستلے جناب سپیکر۔ زمونږ ورته صرف عرض دا دے که یوه Hard area د مخکښ نه declare وی او هغه ختمږی او د هغے په ځائے باندے نوے علاقے Include کیږی نو خبره قابل توجه ده، همدردانه غور غواړی، Sympathetic consideration غواړی، Favourable consideration غواړی۔ لهذا زما دا درخواست دے د منسټر صاحب په خدمت کښ چه هغوی دِ On the Floor of the House دومره نه جذباتی کیږی چه د نورو جذباتو ته پرے ټهیس رسی جناب سپیکر صاحب۔

<u>جناب سپیکر</u>: جی طاؤس خان!

<u>جناب طاؤس خان</u>: زه ستاسو په وساطت باندے وزیر صاحب ته یو Request کوم چه ضلع کوهستان د مخکښ نه Hard area ده او اوس تاسو خو هم تسلیم کړے ده، ټول هغه شے برابر دے۔ د هغے باوجود زمونږ ضلع کوهستان کښ د دوه یا درے کسانو نه علاوه د ډویژن په سطح باندے صوبائی ډائریکټر خپل کسان Appoint کړی دی او زمونږ خلق نے پریښوڈلی دی او نور خلق نے اچولی دی۔ نو د Hard area مقصد خو دا وو چه هغے کښ Trained کسان، مونږ ته لیکلی هغوی داسے راکړی وو چه Trained به مخکښ بهرتی کیږی او هغے نه پس به Un-trained بهرتی کیږی پینځو کالو د پاره۔ چا چه Training کړے وی نو هغوی به کیږی او هغوی نه چه پاتے شی نو بهرتی به کوڅ او هغوی په ډویژن سطح باندے به نے کول۔ هغوی مونږ سره ډیر ظلم کړے دے۔ نو هغوی چه هلته لاړل نو هغوی ورته چارج ورنه کړو۔ دا زه

تاسو ته صاف وایم، نو د هغے ذمه واری د هغوی ده۔ بیا که دا بغاوت راغے نو بیا دا ذمه واری د هغوی ده۔ زه ستاسو په وساطت باندے او د پورا هاؤس په وساطت باندے وزیر صاحب ته دا وایم چه د دے حل اوباسی۔ السلام علیکم۔

جناب سپیکر: زما خو خیال دا دے جی چه منسټرصاحب حو تاسو ته وئیلی وو چه په کومه طریقه باندے میرټ جوړ وی او د هغه میرټ خلاف ورزی چا اوکړه نو تاسو نے پوائنټ آؤټ کړئ۔ دوئ اووے چه مونږ به د هغے برخلاف ایکشن اخلو۔ نو تاسو لارشئ، مسنټر صاحب ته کینئ۔ تاسو چه دا وایئ چه فلانی سره زیاتے شوے دے، د هغه حق وو او ورته نه دے ملاؤ شوے نو بیا مهربانی اوکړئ چه منسټر صاحب ته Approach اوکړئ او ورته اوښایئ او هغه Facts ورته کیږدئ۔ نو دا حو به بیا خا مخا د هر یو خلاف ایکشن اخلی۔

جناب طاؤس خان: جناب ته پته ده چه دا Hard area تسلیم ده، د هغے باوجود مونږ سره دا کار شوے دے۔ مونږ هغوی ته وینا کړے ده لیکن هغوی مونږه په تیاره کښی ساتلی وو۔ مخکښی نے وئیل چه مونږ په دے خبرے کوؤ۔ بیا نے وروستو خبره اونه کړه۔

وزیر تعلیم: جناب سپیکر صاحب! زه -----

جناب سپیکر: زما خیال دے چه د دوئ ټولو نه پس بیا وروستو جواب ورکړئ۔

وزیر تعلیم: زه د دوئ ټولو جانټ خبره کوم چه دا -----

جناب سپیکر: ترند صاحب پاسیدلے دے چه دوئ هم خبره اوکړی نو بیا۔

وزیر تعلیم: ښه جی۔

حاجی محمد یوسف خان: جناب سپیکر! دا د Hard area خبره شروع ده جی، زما گزارش خو دا دے جی ستاسو په وساطت باندے چه د حکومت هره ښه خبره چه هغه د دے صوبے د پاره او د دے قوم د پاره بهتره وی۔ انشاءالله مونږ به بهر پورتعاون کوؤ۔ حالات دا دی چه بعض Areas داسے دی لکه بټگرام ډسټرکټ 2000 پورے، هغه حکومت تسلیم کړے ده او نوټیفیکیشن دے چه هغه Backward area تسلیم شوے ده۔ په هغے کښې کوهستان، بټگرام، کالا ډهاکه، اپر تناول وغیره وغیره، دا علاقے ټولے شاملے دی۔ اوس چه مونږ څه واوریدل چه په بټگرام کښې پی ایف۔48 نے ترقی یافته کړه او پی ایف۔49 نے Hard area کړه، نو د انصاف په نوم باندے بے انصافی نه دی کول په کار۔ مونږ ستاسو په وساطت باندے منسټر صاحب ته دا گزارش کوؤ چه دوئ د مهربانی اوکړی، یو میټنگ د په دے باره کښې راوغواړی، هغه خپل افسران او مونږ د اوغواړی۔ مونږ به کینو، په دے به بحث اوکړو۔ که یو جائزه خبره وی او د قوم او ملک د خوشحالئ او ترقئ د پاره وی، مونږ به یقیناً هغے سره اتفاق اوکړو -----

Mr. Taus Khan: Point of order.

جناب سپیکر: یو منټ جی، یو منټ۔

حاجی محمد یوسف خان: زما گزارش صرف دا دے چه د دے پالیسئ لاندے چه مونږ گورو نو ظاهری یو څه دی او اندرون بل څه دی۔ دا د خلقو خبره ده، د ایم پی اے خبره نه ده۔ په پی ایف۔48 کښې صرف او صرف زما پارټی نه ده۔ په هغے کښې د حکومتی پارټئ ملگری هم شته۔ دا د حلقے د حقوقو خبره ده۔ دو لاکهٔ چار هزار آبادی ده زما د حلقے جی۔

ایک معزز رکن: پوائنٹ آف آرڈر -----

جناب سپیکر: یو منټ جی، یو منټ۔ اوس خبره بیا راخی نو د میاں صاحب هغے خبرے ته راخی چه دا اوګورئ، تاسو پخپله سوچ اوکړئ بلکه هغه ورځ یو خانے کښې څه دے پریس والو مهربانی کړے وه او مونږ له څه د دوډئ پروګرام نے کړے وو۔ نو هغه پریس والو وے چه سپیکر صاحب، ته پوائنټ آف آرډر پرے داسے Allow کړے چه مونږ له پرابلم جوړ کړے۔ مونږ بیا لیکل نه شو کولے۔ ولے چه په یو خبره Repeatedly, repeatedly, repeatedly, ټهیک ده چه ستاسو کارکردګی Appreciate کوم، زه خپله هم ممبر یم، دا تکالیف وی او خپلے حلقے د پاره خبره کول صحیح وی خو لږ مهربانی اوکړئ، د دے پوائنټ آف آرډر دومره استعمال مه کوئ او بس نے کړئ۔ د منسټر صاحب نه یو جواب واوړئ او زه پریس والو ته دا وایم چه دا اولیکئ چه دا د هغه سائډ د ټولو ممبرانو دا ډیمانډ وو چه زمونږه علاقے Hard area declare کړئ، نو ستاسو دا مسئله به ختمه شی او دا منسټر صاحب به نے جواب درکړی۔ نو مهربانی اوکړئ چه بیا نور بزنس ته لاړشو جی۔

ملک جهانزیب خان: یو Request کوم۔ یو Request دے سر۔ زما دا عرض دے چه کوم دا د Hard area خبره اوشوه، دے له د هاؤس یوه کمیټی مقرر کړی چه هغوی د ټولو علاقو سروے اوکړی او دا بیوروکریټس چه کومے فیصلے کړی دی، په دے باندے د هم نظر ثانی اوکړی او هغوی یو داسے رپورټ راوړی چه کومے علاقے واقعی Hard areas وی نو هغه Hard area declare کړئ، چه کومے نه وی هغه دِ نه کیږی۔ اوس چه کوم میرټ شوے دے نو په دے میرټ باندے هم زمونږ اعتراض دے۔ مونږ ته هغه لسټونه بیوروکریټس را

نه کړل او بالکل زه دا اعتراض کوم چه په میرټ کښې دهاندلی شوے دہ۔

وزیر تعلیم : سپیکر صاحب ! ما خو مخکښې هم On the floor of the House وئیلی دی۔ مونږ د استاذانو انټریوز چه کړے دی، Appointments مو چه کړے دی نو بالکل په میرټ باندے مو کړے دی او په داسے طریقے سره مو کړے دی چه څنګه ستاسو مخامخ په دے ګلاس کښې دا اوبه پاکے پرتے دی او بل طرف ته پکښې ښکاری۔ نو Clear as crystal خبره ده جی۔ دا زمونږ د پارټئ اصول وو، دا زمونږ د پارټئ هدایات وو او زما په خیال په تاریخ کښې به په ورومبی خل دومره پاک، صاف او شفاف انټریوز او Appointments نه وی شوی۔ (تالیاں) ما پخپله بحیثیت د ایجوکیشن منسټر چرته یو سړے خان له نه دے بهرتی کړے۔ زما سره بی بی په خپله ضلع کښې ده، چرته ما ته نے دا نه دی وئیلی نو زما نورڅه کار وو چه ما نورڅوک بهرتی کول یا مو د چا د پاره Favouritism کولو؟ بالکل Purely مو هر څه کړی دی خو مخکښې نه مے وئیلی دی، اوس هم او بیا هم On the floor of the House وایم چه د ایم پی ایز د پاره ما خپل یو یو میرټ لسټ جوړ کړے دے، بدقسمتئ نه هغوی زما آفس ته را نخلے، دوئ کلی ته لاړل۔ اسمبلئ اجلاس ختم شو، هغه مونږ دوئ ته په سبا کلی ته اولیږل۔ دا دے اسمبلی بیا راغله، دوئ دلته راغلل نو هغه میرټ لسټ په مینځ کښې دوئ ته او نه رسیدو۔ زه ورله میرټ لسټ ورکوم۔ مونږ میرټ لسټس په هره ضلع کښې په پینځه خایونو کښې آویزان کړی دی۔ په ډسټرکټ کونسل کښې، په میونسپل کمیټئ کښې، په کچهرو کښې او د ډی ای او په آفس کښې مو کړی دی۔ مونږ هر چا ته اشتهار، بلکه کوشش مو کولو چه مونږه په اخبار کښې هم ورکړو خو چونکه مونږ سره

ېزنه وو چه د اخبار هغه پیسے مونږه لګولے وے، نو په هغے کښې خو
ېو د شک خبره نه جوړیږی۔ اوشوه اِیکا دُکا کښې که چا سره څه غُلطی
وے وی، مونږ له راتلے شی هر وختے، زه د هغے تسلی کولے شم، که
پیارتمنټ کښې چا هم پکښې، مطلب هغه Clerical mistakes به شوی وی خو
ے ایمانی پکښې چا نه ده کړے۔ دا خو زه دے خپل ایم پی ایز ته تسلی ورکوم
که چه ما نه ده کړے نو بل به نے څوک هم نه کوی۔ پاتے شوه خبره زمونږه د
حمد حسن خان، نو هغه زمونږ مشر دے، ډیرے ښے پستے خبرے کوی۔
سوس دا دے او جناب ډیر افسوس راخی چه دوئ دلته وو او مونږه هغه
رے کاله هلته وو۔ دے بی بی به هر قسمه خبره کوله، ویر به نے هم ورته
وو، ښه خبره به هم ورته کوله، د صوبے د مفادو خبره به نے هم کوله،
مونږ د مفادو خبره به نے هم کوله او دوئ نه اوریدله، دوئ به پرے
وږونو کانړه کړے وو۔ اوس چه دلته کښې مونږ ناست یو او هغوی هلته دی
چه خبره کوی نو هر یو وانی یره بی بی د ما ته متوجه شی چه زما دا خبره
وئ واوری۔ زه صرف دومره وئیل غواړم چه صاحبانو، درے کاله وړاندے
ونږ د بی بی په مشرئ کښې چه دوئ څه وے، تاسو خو هغه نه اوریدل، اوس
ے درے کاله صبر اوکړئ او مونږ ته اوګورئ -----

وازیں: پینځه کاله۔

زیرتعلیم: پینځه کاله صبر اوکړئ -----

یک آواز: دوه کاله دِ نه کوی خیر دے، دا درے کاله خو دِ اوګوری -----

زیرتعلیم: خیر دے، هغه درے دِ راته صبر اوکړی، مونږ به تاسو ته خپله کار
زاری اوښایو۔ مونږ به درته خپله کارکزاری اوښایو که فرق مو پکښې را

اوویستو او په مینځ کښې ستاسو هغه فرق واضحه شو نو زمونږ Policies به هغه ټائم دا وی چه تاسو ته واضحه او معلومے دی۔ نو داسے څه خبره ما جذباتی نه وه کړے۔ ما خو درته پاکه خبره اوکړه چه د دے دیر د ارخ نه څه مسئله ده، ما خو درته پاکه خبره اوکړه، سیاسی خبره مو او نه کړه چه لکه ترخه خوږه خبره مو لکه د ګولو په شانتے خوږه کړه او هغه څنګه پستے خبره مو درته اوکړه، هغه شان مو نه ده کړے۔ ما درته نیغه خبره اوکړه، Straight forward خبره مو اوکړه چه په دیر کښې دا مسئله شته خکه د دیر نه تقریباً ایم پی ایز ټول بدل راغلی دی، نوی کسان پکښې راغلی دی او زاړه پکښې یو یا دوه راغلی دی۔ هغه چه کوم استاذان په دیر کښې وو لکه څنګه راروان وو، هغه ختم شو، نوی صاحبان چه راغلل، هغوی دغه شانتے شو۔ اوس هغه استاذان به څه جلسه هم کوی، څه به جلوس هم کوی، څه به ماشومان هم استعمالوی، څه به بل څه هم کوی۔ زه خو به صرف دوئ ته اپیل اوکړم۔ مونږ له لږ دومره وخت راکړئ او دے استاذانو ته صرف دومره اووایئ چه د ایجوکیشن ډیپارټمنټ چه څه رولز دی، څه پالیسی ده، د هغے مطابق لاړ شئ۔ لږ نے مونږ ته پریږدئ که مونږ ښه کړے شو او تاسو ته پکښې فرق ښکاره شو یا تاسو بهتری اولیدله، نو ټهیک شوه او که مو اُو نه لیدله، بیا دوه درے میاشتے پس تاسو دا شور جوړ کړئ۔ یو دوه میاشتے خو تاسو مونږ پریږدئ چه مونږه که خیر وی انشاء الله تعالیٰ، بهتر کړو او مونږه نے درله برابر کړو، داسے په طریقه طریقه به دوئ رو رو سر کیلے له راوړی خکه چه داسے خو دوئ اموخته شوی دی، څوک استاد هم نوکری نه کوی۔ رو رو به انشاء الله دوئ برابر شی او ځانے له به راشی۔ نو دغه خبره مو کول غوښتله۔ زمونږ

سابقه وزیر صاحب د بټګرام خبره اوکړه۔ زیات تر جناب، که مونږ اوګورو نو په تیر شوی وخت کښې چه دا څومره استاذان وټلی دی په Female side کښې، تقریباً څه دولس سوه یا د زرو نه بره، نو هغه تقریباً په بټګرام او دغه ایریا کښې Appoint شوے وے او بیا وټلی دی۔ Hard area به وه خو دومره هم نه وه چه څومره ترینه جوړه شوه۔ اوس دا اوشوه چه بټګرام Proper city هم بټګرام کښې راځی او په بټګرام کښې هغه دیهات، غرونه او هغه خشکے هم راځی او تقریباً کالا ډهاکه چه ده، نو دا هم دغه سره راځی۔ اوس چه څنګه دوئ وائی چه بټګرام زما حلقه دِ هم Hard area شی، کالا ډهاکه هم دغه سره راځی او هغه دِ هم Hard area شی۔ نو هغه خو د Hard area تاسو یو Criteria جوړه کړئ چه تاسو Hard area په څه طریقه سره برابر کوئ نو هغه شانتے به نے اوکړو۔ مونږ ته خو چه Hard area څه Mention شوی دی په څه طریقه باندے مونږ ته مخامخ پرتے وے، هغه مونږ سره دی۔

<u>جناب سپیکر</u>، زما خیال دے هاشم خان، چه ښه صورت به نے دا وی چه دا کوم کوم ممبران صاحبان په دے کښې دلچسپی لری نو دوئ به تاسو ته دفتر ته درشی او دا اوس د کال اټینشن نه نور Debate نه جوړوؤ او تاسو ورسره کښینئ۔

<u>وزیر تعلیم</u>، په دوانړو سترګو جناب۔

<u>جناب سپیکر</u>، د دوئ چه کوم ښه Suggestion وی In the interest of education، ما ته پته ده چه تاسو به په هغے باندے بالکل غور کوئ، نو په هغے باندے به مهربانی اوکړئ چه د دوئ څه جائز مسئله وی او ستاسو د وسائلو په مطابق کیدے شی نو په هغے باندے ورسره عملدرآمد اوکړئ۔

وزیر تعلیم: سپیکر صاحب! په سر سترګو۔

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! په دے کښې مونږ دا عرض هم کوؤ چه دوئ په کومه پالیسئ عمل کوی نو هغه مونږ Appreciate کوؤ۔ اوس خبره دا ده که فرض کړه، زه دوئ ته دا اووایم چه تاسو کومه د میرټ پالیسی جوړه کړے ده په هغے باندے، لکه زما په پالیسئ باندے، که د دوئ دا خیال وی چه مونږ د پالیسی ورکړو، هغه د ښه پالیسی وی او په هغے باندے مونږ عملدرآمد اوکړو نو د دے نه بل ښه صورتحال نه شی کیدے، د خوب صورتحال دے، حقیقتی صورتحال نه شی کیدے۔ که دوئ نے کولے شی نو مونږ پرے دوئ ته شاباس ورکوؤ۔ اوس جناب سپیکر، زه صرف یوه خبره کوم، زه د غزل په بدل کښې غزل ونیل نه غواړمه۔ ده چه څه اوونیل، هغه نے اوونیل۔ صرف دا وایم لکه د میرټ خبره ده نو په میرټ کښې جناب سپیکر، تاسو ته پته ده چه یو سړی ته په میډیکل کالج کښې داخله ملاؤیږی نو هغه د ایف۔ایس۔سی په فرسټ ډویژن باندے او د هغه په میرټ باندے ورته ملاؤیږی، اوس کومه پالیسی چه دوئ ته ټیکنوکریټس ورکړے ده، نو دے ضمن کښې زما عرض دا دے او زه وایم چه زمونږ د اپوزیشن د ملګرو وروستو حق کیږی او اولنے حق د حکومتی ورونړو کیږی چه دوئ په دے کښې د ایجوکیشن د کمیټئ په ذریعه او یا د ممبرانو په ذریعه باندے دا کومه پالیسی چه دوئ ورکړے ده، مونږ وایو چه دوئ میرټ کوی، په میرټ باندے عمل کوی نو دوئ ته مونږ خوش آمدید وایو، مونږ ورله شاباس ورکوؤ او دوئ د دریو کالو د پاره وائی، مونږ وایو چه دوئ دِ دَ لسو کالو د پاره کینی خو مونږ وایو چه دوئ خو په دریو میاشتو کښې ناکامیابه شوے دی نو جناب سپیکر صاحب، دریو کالو ته به څنګه

اورسی؟ زما عرض دا دے چه په پالیسی د زمونږ نه تپوس اوکړی- په هغه پالیسۍ کښې ورته هم مونږ وایو چه کوم ټیکنوکریټس پالیسی ورکړے ده، هغه ټهیک نه ده او په هغے کښې هم مونږ ورله -----

جناب سپیکر: احمد حسن خان! بیا مو خبره Debate ته اوویسته کنه، تاسو Debate ته مه خئ-

جناب احمد حسن خان: نو جناب سپیکر، زما عرض دا دے چه کومه پالیسی ده، هغه پالیسی دِ هم دے اوکوری چه هغه پالیسی ځنګه ټهیک ده که نه ده ټهیک؟ په هغے کښې به مونږه څه تجاویز ورکړو -----

جناب سپیکر: ښه-

جناب احمد حسن خان: څه رائے به ورکړو چه په هغے باندے عملدرآمد اوکړی-

جناب سپیکر: خه ښې، بس دا کافی وه- Thank you very much. جی Thank you very much.

جناب نجم الدین: ما دا عرض کوؤ چه زما جواب نے صحیح را نه کړو- زما مخکښې -----

Mr. Speaker: Thank you very much. Syed Manzoor Hussain Bacha Sahib, to please move his Call Attention No. 113. Please.

توجہ دلاؤ نوٹس

سید منظور حسین: شکریہ، جناب سپیکر صاحب- محترم جناب سپیکر صاحب! میں آپ کی وساطت سے صوبائی حکومت کی توجہ ڈائریکٹوریٹ لوکل فنڈ آڈٹ صوبہ سرحد کے ملازمین کو

درپیش ایک اہم مسئلہ کی طرف مبذول کرانا چاہتا ہوں کہ محکمہ ہذا میں دو ماہ سے ڈائریکٹر کی خالی آسامی پر محکمہ کے ایک سب سے سینئر آفیسر کو ترقی دیکر تعینات کیا جانا تھا لیکن اس کے برعکس پاکستان آڈٹ ڈیپارٹمنٹ کے ایک آفیسر کو بطور ڈائریکٹر مقرر کیا گیا، جس کی بدولت لوکل فنڈ آڈٹ ایمپلائز ایسوسی ایشن میں بے چینی پھیلی ہوئی ہے۔ جناب سپیکر صاحب، آپ کی وساطت سے صوبائی حکومت سے درخواست کرتا ہوں کہ وہ اس بارے میں تحقیقات کرائے اور اگر واقعی کوئی ناانصافی ہوئی ہو تو اس کا سدباب کیا جائے۔

جناب سپیکر: جی خه خبره پرے اوکړئ کنه۔

سید منظور حسین: محترم سپیکر صاحب! دا خوارلسم اپریل باندے محمد اقبال صاحب، چه ډائریکټر وو۔ هغه ریټائرډ شو او بیا د هغوی په ځائے باندے هغوی پسے د Senior most اسسټنټ ډائریکټر ترقی کیدل وو او فنانس ډیپارټمنټ دغه کیس صوبائی سلیکشن بورډ سره اوچت هم کړو۔ هغه Under process وو یعنی دغه کارکیدونکے وو چه دغه دوران کښې د اسلام آباد نه On deputation بل افسر راوستے شو او دلته کښې په دے محکمه کښې براجمان کړے شو۔ نو جناب سپیکر صاحب، دا لکه په دے شکل باندے ډیر زیاتے دے چه یو خو په Deputation باندے چه د هغه ځائے نه راغے نو دا دوئ د رولز مطابق نه ده۔ رولز د دوئ دا دی چه یا به Senior most سړے Promote کړی او یا به په صوبه سرحد کښې دننه د بلے محکمے نه افسر راوستے شی او هغه به مقرر کیږی۔ دا دواړه Look over شو او On deputation سړے راغے۔ په دے پسے بیا لاندے چه کوم نقصان اوشو نو هغه دا دے چه د کومو کسانو ترقی کیدونکے وه، چه دا Senior most Assistant Director چه Promote شوے وے، دے ډائریکټر شوے وے نو بیا به هغے

پسے بل اسسټنټ ډائریکټر کیدو او بیا دغه شان هغه پسے به بیا بل کیدو۔ نو دغسے زمونږ صوبے ته په دے طریقه باندے هم نقصان اورسیدو۔ نو زه دا درخواست کوم چه صوبائی حکومت دِ په دے سلسله کښې نوټس واخلی او دے قسمه ځیزونو ته ددوئ کال نه ورکوی۔

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! په دے باندے چونکه ما سحر ستاسو آفس نه تپوس کړے وو۔ د اسمبلئ هغه زاړه ځیزونه Lapse شوی وو۔ ما هم پرے یو توجه دلاؤ نوټس داخل کړے وو۔

جناب سپیکر: دا فریش دے، زاړه خو Lapse شوی دی۔

جناب احمد حسن خان: ټهیک ده۔ زما خو صرف یو عرض دا دے، په دے کښې عدالتی فیصله هم ده او هغه عدالتی فیصله دا ده، زه لږ غوندے د باچا صاحب خبره Support کول غواړم ستاسو په توجه او ستاسو په وساطت سره۔ د دے نه مخکښې چه منسټر صاحب جواب ورکړی چه کله گورنمنټ میرټ کول غواړی او د میرټ په پالیسئ باندے تلل غواړی نو دا میرټ، ما مخکښې هم عرض کړے دے چه دا د حکومت په تمام شعبو کښې *ہوتا ہوا نظر آ جائے* جناب سپیکر، په Promotion کښې، په Appointment کښې، په Transfer کښې، په هر څه کښې۔ خدائے دِ اوکړی چه د دے حکومت دے نیکے ارادے په وجه باندے داسے یو وخت راشی چه مونږ خلق نه تنگوی او هر چا ته حق ملاؤیږی او د حق په بنیاد څوک Aggrieved وی او د هغه خبره کیږی او مونږ د دے غیر ضروری مسائلو نه خلاص شو۔ بیگا هم د شپے دا کسان په دے سلسله کښې راغلی وو۔ په دے کښې د عدالت دا فیصله ده چه د بل خائے نه په Deputation باندے هله سړے راځی که چرے په دے محکمه کښې په خپل

Seniority باندے او Competency باندے سړے Available نه وی- جناب سپیکر! واضحه خبره ده یو سړے په یو خانے کښې لس کاله، پنځلس کاله یا شل کاله نوکری کوی او هغه په دیانتداری او ایمانداری سره کوی، هغه د هغے انجام ته دا سوچ کوی چه ما ته به پروموشن ملاویږی، ما ته به قوم او حکومت عزت راکوی- د قوم او حکومت د عزت په بنیاد باندے به ما ته ترقی ملاؤیږی او چه کله هغه محکمه کښې یو پوسټ وی او هغے ته شل یا پنځلس کاله سړے انتظار اوکړی نو د هغه د دے ایمانداری هغه ته دا بدل ملاؤ شی چه د بهر نه یو سړے راشی او په هغه پوسټ باندے کښینی- جناب سپیکر! لهذا زما دا درخواست دے او زما دا یقین دے چه په حکومت کښې دننه په فنانس ډیپارټمنټ کښې هم او منسټر صاحب چه تر څو پورے د دے سټړی کړے ده او تپوس نے کړے دے، نو زما دا یقین دے، دا نه شم وئیلے که د حکومتی ذمه وارو په بنیاد باندے د هغوی رائے زمونږ نه دلته بدله وی لکه څنګه چه هاشم خان اووئیل چه دغه شان هلته هم کیدل او دغه شان دلته هم کیږی او خدائے دِ اوکړی چه تر څو پورے کیږی چه زر تر زره ختمه شی، که د حکومتی مجبورو، اصولو په بنیاد باندے د منسټر صاحب رائے د دے نه بدله وی نو زما دا یقین دے چه په خپل دفتر کښې او د دے کیس د سټړی کیدو په بنیاد باندے هغه زمونږ سره سو فیصد اتفاق لری او زما دا یقین دے چه دا به کمیټئ ته Refer کړی او په دے کښې به داسے یو مثالی فیصله اوکړی چه بیا د پاره به د چا حق نه وهلے کیږی- Thank you very much.

<u>جناب سپیکر</u>: دا یو منټ جی، زه جواب ورکوم- تاسو بیا خپله خبره اوکړئ- تر څو پورے چه د سپیکر تعلق دے جی، هغه خو هم دے هاؤس جوړ کړے

دے او هاؤس چه څه فیصله کوی نو هغه خو په هغے باندے روان وی- نه زما دا Intention دے چه Bulldozing دِ اوشی، نه زما دا Intention چه داسے دِ اوشی یا داسے دِ اوشی- صرف دومره پورے خبره ده جی چه دا په خراب Sense کښی به نے بالکل نه اخلیٔ خو پکار ده لکه چه تاسو اوونیل چه د هزارے ممبران دی، د سوات دی، د دیر دی، دا د فارسټری ایریا خلق دی نو لږ پکار دا ده هغوی په خپل ټاټم سره څه Amendments راوړے وے نو د هغے به بیا لږ ـــــ یعنی کیدل خو به هم هغه، لکه څنګه چه تاسو وایئ چه د Government strength زیات دے او هر وختے چه ګورنمنټ هر یو وی نو Government means a strength نو هغه خو هر څه کولے شی خو دا ده چه اپوزیشن له هم دا پکار ده چه هغوی خپل طرف نه څه Amendment وغیره پکښی ورکړی- نو زما د طرف نه خو هیڅ اعتراض نشته، زه خو به ستاسو Decision ته ګورم چه تاسو څه Decision اخلیٔ نو زه به هغه Announce کوم-

<u>نوابزادہ محسن علی خان</u>، جناب سپیکر صاحب! آپ سے گزارش یہ ہے کہ Legislation جو اس معزز ایوان میں پاس ہوتی ہے، That becomes law. Tomorrow these laws can be challenged in courts. Courts will definitely see whether the Assembly has applied its mind. The application of mind will be seen. If all legislation is builldozed in matter of minutes then that legislation tomorrow can be thrown out in a court of law because the Assembly would not have applied its mind. My humble submission is, I know Sir, that as a Speaker you can not insist whether the Government should send it to Committee or not, but as

a matter of principle, all Laws, all Bills should go to Committee so they are properly scrutinzed. Let the report of the Committee be there.

جناب یوسف ایوب خان (وزیر مواصلات و تعمیرات): پوائنٹ آف آرڈر۔ ایک دفعہ ووٹنگ ہو جائے جی ایک بل پر تو اس کے بعد قانونی حیثیت کیا ہوتی ہے؟ Let us want to know.

جناب سپیکر: یہ Consideration کیلئے جب Move ہو جاتا ہے تو Discussion اس پر ہوسکتی ہے۔ Discussion, that is allowed. پھر Discussion ہوسکتی ہے۔

Nawabzada Mohsin Ali Khan: Janab Speaker! he is a young and he has a long time to go, he will learn. Yes, I am twice in age. It is only after the period of consideration that the Bill is referred to a Committee, not before that. Once the Bill has been put up for consideration, normally it is sent to the Select Committee concerned. This is just for the information of the honourable young Minister.

جناب احمد حسن خان: د ریکارڈ د درست کیدو د پاره صرف دا عرض کوؤ ستاسو د مالاکنډ ډویژن د ممبرانو متعلق او بالخصوص د اپوزیشن نه یو تاثر قائمیږی، زما په خپل خیال مونږ چه پکښې Amendment نه دے-----

جناب سپیکر: نه جی، ما دا خبره داسے نه ده کړے۔

جناب احمد حسن خان: جی سر۔

جناب سپیکر: په دے باندے نه، ما خو مخکښې تاسو دا هم اووئیل چه هسے نه

چه څوک ترینه دا مطلب واخلی خو In future د پاره مے لږ تاسو ته خبره کوله چه څه داسے خبره وی، نو پکار ده چه تاسو مخکښ پرے عمل اوکړئ۔

جناب احمد حسن خان: چونکه زه د مالاکنډ ډویژن سره تعلق لرم او هغه فهرست په دے کښ چه کوم دوئ Amendment کړے دے نو دا Public participation او د Village committees د پاره دے، نو دا ښه خبره ده لهذا په دے وجه پرے مونږ Amendment نه دے ورکړے۔ اوس چه څو پورے د اپوزیشن د دغه تعلق دے، تاسو ته پته ده چه بَل Bill را روان دے چه په هغے کښ د صوبے د حقوقو او د زمیندارو په حقوقو باندے خبره ده نو په هغے کښ به مونږ تاسو اووینئ چه زمونږ لائحه عمل به پکښ څه وی؟

جناب سپیکر: بالکل، بالکل۔

جناب نجم الدین: زما جی د خنګلاتو د علاقے سره تعلق دے نو زه هم په دے کښ لږه خبره کوم۔ سر! دوئ چه کوم Amendment پیش کړے دے 'Public participation' نو زه صرف جی دا عرض کوم چه دا فارسټ د اوسه پورے چه دوئ کومه کارروائی شروع کړے وه، اول F D C جوړ شو، په F D C کښ دوه درے زره کسان بهرتی کړے شو۔ داسے په هزاره کښ پراجیکټ کمیټئ جوړے شوے۔ زما صرف په دے کښ یو عرض دے سر او هغه 'Public participation' ستاسو په علم کښ دلته یو مثال دوه پراته دی، هغه دا چه په دے کښ فیز -----

جناب سپیکر: معافی غواړم نجم الدین خان، یوه خبره اوکړم، بیا تاسو خپله خبره Continue کړئ۔ دلته کښ خو محسن خان اوونیل چه دا، څه نوم ته دے چه که هغه یو منسټر نشته یعنی Proper ، نو دا نور دغه دی، چه داسے څه

دغه شته چه د پارټۍ یو سړے یوه خبره اوکړی او هم هغه خبره بیا Contradict کوی، داسے خو څه نشته کنه؟

Nawabzada Mohsin Ali Khan: Sir, I am on a point of order.

جناب نجم الدین: سر! زه په دے باندے هغه Details د دے اسمبلۍ مخکښې ایږدم نو بیا ستاسو -----

Nawabzada Mohsin Ali Khan: Sir, I am on point of order. That one Minister, the Constitution has said this. سر! میں نے یہ نہیں کہا ہے کہ -----

جناب سپیکر: زما خیال دے چه د پارټۍ کانستی ټیوشن کښې خو به څه هم داسے وی چه د یو پارټۍ لیډر یوه خبره اوکړی نو هغه پکارده چه (قهقهے) او اوس خو اختیارات داسے دی چه نجم الدین خان خبره اوکړی خو د آفتاب خان ریمارکس تاسو واوریدل، چه بیا په فلور کراسنګ کښې هم سړے راځی۔

جناب نجم الدین: مطلب دا دے، زه صرف عرض دا کومه چه په دے کښې د Public Participation خبره ده، نو پبلک هیلتھ سکیمونه تاسو را اویستل او دا خبره مو اوکړه چه په دے کښې Public Participation او دا به پبلک کوی او د دے خلقو نه به پیسے راغونډوی لیکن د هغے څه انجام اوشو؟ تر اوسه پورے هغه فیل شو۔ په دے کښې په هر کلی کښې، په هره علاقه کښې اختلافات دی۔ اختلافات دا چه که مثلاً زه په دغه کمیټۍ کښې ممبر شوم، زما مخالف چه کوم دے، هغه په دغه کمیټۍ کښې کم از کم یو کس به پکښې چیئرمین کړی، هغه نے نه منی نو دا یو داسے مسئله شروع شوه چه په دے کښې زه ستاسو په نوټس کښې دا خبره راولم۔ په مالاکنډ ډویژن کښې پشګه ډهډ کښې سیکرټری صاحب

راغلے وو او ټول ایم پی ایز په هغے کښې راجمع شوی وو او ټولو ممبرانو هغوی ته دا مشوره ورکړے وه چه دا کوم طریقه کار ته وے، دا زمونږ په علاقه کښې زمونږ د اختلافاتو د وجے نه د کامیابیدو نه دے۔ نو دا خنګلات، چه تر اوسه پورے خلق بے روزګاره دی او د هغے باوجود یو روان سسټم دوئ بندوی او بل یو سسټم شروع کوی نو د اسمبلئ په فلور دا ما تاسو ته اوونیل چه چرته هم داشے نه شی کامیابیدے۔ په دے کښې د خلقو اختلافات نورهم وسیع کیږی او یو کس د بل کس جمعداری نه منی چه یره دا فلانکے کس په فلانکی خائے کښې په خنګلاتو کښې کارکوی او زه دِ نه کوم۔ نو زه دا وایم چه کم از کم دوئ داسے څه فیصله کوی چه په هغے کښې د هغه خائے که ایم پی ایز پکښې نه شاملوی نو د هغه خائے کوم چه د خنګلاتو خاوندان دی، هغه د پکښې شامل کړی او هغوی ته د اووائی چه د دے شی د کامیابئ څه امکان شته او که نشته دے؟ نو زما منسټر صاحب ته دا درخواست دے چه کم از کم په دے کښې د مالاکنډ ډویژن ټول ایم پی ایز راجمع شوی وو او په پشتګ ډهډ کښې د هغوی د سیکریټری صاحب سره میټنګ شوے وو او په دے خبره باندے نے هغوی ته دا خبره کړے وه چه دا ایف ډی سی تاسو په دے خپل خائے باندے پریږدئ، په هرکال کښې نوے نوے پریکټس مه کوئ او په دے باندے کار چلوئ البته که څه غلطئ پکښې وی نو د هغے د تدارک د پاره څه طریقه کار جوړ کړئ۔

<u>وزیر جنګلات</u>: نجم الدین خان خو شپږ، اته خبرے اوکړے۔ خاصکر دے Amendment سره چه کوم تعلق لری نو دا خو ډیر Simple شان Amendment دے او د هزارے د فارسټ د پاره دے۔ نور ټول پاکستان د پاره چه کوم ایکټ

1926 دے نو هغه ایکټ کښې د کیمونټی تصور شته او Joint management تصور پکښې شته خو دا هزاره کښې درے قسمه فارسټ دے۔ Reserved Forest کښې دا نه وو۔ نو په دے وجه باندے د کیمونټی مطلب دا نه دے چه که څوک اوس دا خیال کوی چه که په دے کښې کمیونټی راشی نو بیا به خنګل زیات نه کټ کیږی۔ مونږ خو وایو چه په دے کښې خلق د کومے پورے نه وی شامل شوی او تش فارسټ ته دا حواله شوے وی نو فارسټ والا یواخے دا نه شی سنبهالولے۔ پکار دا ده چه هغه کیمونټی کوم چه هغه خلق وی جی چه هغه په دے کښې Involve کړو زیات نه زیات او دا ډیر یو Simple ، دا د هزارے د پاره دے او صرف ----

جناب سپیکر: د نجم الدین خان خبره خو حل شوه۔ دا خو صرف د هزارے والا د پاره دے۔

وزیر جنګلات: هاں جی، د نور پاکستان د پاره چه کوم دے نو په هغے کښې شته۔

جناب سپیکر: هغه Already شته۔

جناب نجم الدین: سر! زمونږ هغه هم په دے چل باندے روان دے نو که کله راتلو نو بیا به مونږ خپل Amendment پکښې پیش کوؤ او بیا به خبره کوؤ د خیره سره انشاء اللہ تعالیٰ۔

نوابزادہ محسن علی خان: جناب سپیکر صاحب! ہزارہ تو سارا حکومت میں شامل ہے، وہ تو اس بل سے خوش ہیں، چاہے وہ ٹیکس لگے ان کے اوپر، چاہے ان کو لکڑی لے جانے کی اجازت ہو یا نہ ہو، وہ تو اس سے خوش ہیں، We are trying to protect the rights of the people from Hazara جناب سپیکر صاحب۔

Mr. Speaker: Since no amendment has been moved by any

hon'able Member in Clauses 1 to 3 of the Bill, therefore, the question is that Clauses 1 to 3 may stand part of the Bill? Those who are in favor of it, may say 'Yes' and those against it, may say 'No'.

(The motion was carried.)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it. Clauses 1 to 3 stand part of the Bill. Preamble also stands part of the Bill. The honourable Minister for Forests, NWFP, to please move that the North-West Frontier Province Hazara Forest (Amendment) Bill, 1997 may be passed. Honourable Minister for Forests, NWFP.

Minister for Forests: Mr. Speaker Sir! I beg to move that the North-West Frontier Province, Hazara Forests (Amendment) Bill, 1997 be passed.

Mr. Speaker: The motion before the House is that the North-West Frontier Province, Hazara Forests (Amendment)Bill, 1997 may be passed. Is it the desire of the House that the Bill be passed? Those who are in favour of it, may say 'Yes' and those against it, may say 'No'.

(The motion was carried.)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it. The Bill is passed.

جناب نجم الدین، سر! بیا دا Counting نه کوئ؟ دوئ زمونږ سره ملګری

شوی دی خو د فلور کراسنګ نه لږ ویریږی۔ (قهقهے) دا جناب، فلور کراسنګ ایکټ منظور شو نو دوئ دهغے په وجه لږ ویریږی۔

Mr. Speaker: The honourable Minister for Irrigation, NWFP, to please move that the North-West Frontier Province, Irrigation and Drainage Authority Bill, 1997 may be taken into considration at once.

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! وہ اس کو پیش کرنا نہیں چاہتے کیونکہ وہ اس کے مضمرات سے بخوبی واقف ہیں۔

Nawabzada Mohsin Ali Khan: Sir, the Minister is absent. Sir, he has withdrawn.

Mr. Speaker: This is very strange and in future I will not tolerate such like of affiars in the House that the Minister is called, and not a single Minister is moving the Bill nor the concerned Minister is here in the House. This is realy deplorable and I take serious view of this thing.

Nawabzada Mohsin Ali Khan: Sir, he has withdrawn the Bill.

جناب نجم الدین: سر! تاسو رولنګ ورکړو اوس خو دا ختم شوے دے، بله ورخ به نے بیا پیش کړی۔

Mr. Speaker: The honourble Minister for Irrigation, NWFP, to please move that the North-West Frontier Province, Irrigation And Drainage Authority Bill, 1997 may be taken into consideration at

once. Honourable Minister for Irrigation, NWFP, please.

Mr. Bashir Ahmad Bilour (Minister for Irrigation): Mr. Speaker! I am sorry that I was late. Mr. Speaker Sir! I beg to move that the North-West Frontier Province, Irrigation And Drainage Authority Bill, 1997 be taken into consideration at once.

جناب سپیکر: په سټیج باندے به وایئ چه دا Consideration پرے کیږدو، بیا به تاسو خپل دغه اوکړئ۔

The motion before the House is that the North-West Frontier Province, Irrigation And Drainage Authority Bill, 1997 may be taken into consideration at once. Is it the desire of the House that the Bill be taken into consideration at once?

(The mtion was carried.)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it.

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! پوائنٹ آف آرڈر۔

جناب سپیکر: اوس تاسو په دے Discussion کولے شئ۔ که څه خبره پرے کول غواړئ، You have got the right.

نوابزادہ محسن علی خان: جناب سپیکر صاحب! Last Assembly Session میں On the last day of the Session جناب سپیکر صاحب، اس بل کو Honourable Minister for Irrigation نے Introduce کیا تھا اور اس وقت بھی جناب سپیکر صاحب، میں نے یہ Point raise کیا تھا کہ This Bill should be referred to the Standing Committee and at that stage the honourable Minister got

up and gave an assuarance three times on the floor of this House.

آپ نے تین دفعہ ان سے پوچھا بلکہ میں تو جناب سپیکر صاحب' Insist کر رہا تھا کہ It should be referred immediately and the honourble Minister agreed.

it was you from the Chair, Janab Speaker, who said 'No'. Let it be referred at the time of consideration because when it is put in for consideration then we can refer, I think, the Minster concerned

has already given an assurance that this Bill would be refer. میری آپ سے یہ گزارش ہے جناب سپیکر صاحب -----

جناب سپیکر: یہ میرے الفاظ کو ذرا دہرائیں۔ میں نے صرف یہ کہا تھا کہ آج صرف Introduction stage ہے And no previous commitment. میں نے صرف اتنا کہا تھا کہ The stage of consideration when comes. تو پھر اس وقت۔ میرے یہ الفاظ تھے۔ باقی منسٹر اور آپ کے جو الفاظ ہیں' وہ منسٹر خود جواب دیں گے لیکن میں اپنی پوزیشن کی وضاحت کروں کہ میں نے یہ کہا تھا کہ Introduction stage ہے۔

نوابزادہ محسن علی خان: جناب سپیکر! میں تو یہ نہیں کہنا چاہتا ہوں کہ آپ نے یہ کہا ہے یا نہیں کہا ہے۔ آپ جو کہہ رہے ہیں' ٹھیک کہہ رہے ہیں۔ سوال یہ ہے جناب سپیکر صاحب' جو کچھ کہا جاتا ہے' By the grace of God یہ ایک اسمبلی ہے اور We are speaking into a microphone, جو کچھ اس معزز ایوان میں کہا جاتا ہے' چاہے We speak from here, چاہے منسٹر صاحب بولتے ہیں' چاہے آپ From the Chair بولتے ہیں' This is all a part of the record of the Assembly. اگر کسی کا بھی Doubt ہو جناب سپیکر صاحب ' Including you, if you or any doubts in the matter, میری آپ سے یہ Humble گزارش ہوگی That you adjourn the House

for ten minutes and you listen to the recording of that particular

portion of the Session in which this assuarance was given and

But جناب سپیکر صاحب، آپ جو کچھ فرما رہے ہیں، درست فرما رہے ہیں then I think,

once a person rose in age, the memory also start to play games on.

By the جناب سپیکر صاحب، I know میں منسٹر صاحب سے یہ گزارش کروں گا (قہقہہ)

grace of God you are very young man (Laughter) and by the

grace of God your memory is very alert but پھر بھی جناب سپیکر صاحب

انسان ہیں، کبھی کبھی انسان سے غلطی بھی ہوسکتی ہے۔ میری صرف یہ گزارش ہوگی جی

This House is being conducted in such a manner by you that کہ ہم

We are proud of the fact that سب جو اپوزیشن میں ہیں یا گورنمنٹ میں ہیں

you are our Speaker. An assurance on the floor of the House -----

Mr. Speaker: Thank you.

Nawabzada Mohsin Ali Khan: Tank you Sir, an assurance on the floor of the House by the Government -----

Mr. Speaker: So for this assurance has not been given by the Government to me, you have only given me this assurance. Till this day the Government is quite silent, I don't know why?

Nawabzada Mohsin Ali Khan: Sir, whether they are silent or not, we are Sir, proud of you.

فرید طوفان تو جی، اس بات پر سو بھی گئے ہیں۔ سر! عرض یہ ہے کہ

Either the Minister should get up and say categorically that he

gave no assurance and if he says that he has given no assurance then my humble submission will be that then the record should be looked at and seen. If he has given an assuarance, the Government is bound by. Mr. Speaker Sir, if he has not given an assurance then of course like you bulldozed the last Bill, you are in a position to bulldoze this Bill.

جناب سپیکر: نه جناب، تاسو به کینئ، ټولو ته حق دے چه ټول خبرے اوکړی- بیا تاسو د ټولو جانټ جواب ورکړئ جی-

جناب سپیکر: جی-

بیگم نسیم ولی خان: محترم سپیکر صاحب! پکار نه ده چه زه خبره اوکړم خکه چه د خبرے خو ډیر وضاحت اوشو- پکار دا دی چه منسټر صاحب چه خبره کوی نو دا دِ مد نظر اوساتی چه آیا که داسے کارشوے وی نو د دے د پاره دوئ تدارک شه کوی؟ او دا نه ده چه یواخے په یو ډیپارټمنټ کښ، پکار دا دی چه زمونږ په محکمو کښ، په هر خانے کښ که داسے خانے خالی کیږی او هر خانے له مونږ د بهر نه یو سړے امپورټ کوؤ او راولو نے او دلته نے کښینوؤ، نو بیا زمونږ د دے خپلو ادارو د ترقئ او د پروموشن هغه ترتیب خرابیږی- لهٰذا دوئ د په دے سوچ او غور اوکړی که داسے یو کار شوے وی، دا کار چه دے، د دے صوبے د پاره قابل تحسین نه دے، پکار دا دی چه داسے کار او نه شی او که شوے وی نو واپس د شی- دا یواخے د یو ډیپارټمنټ خبره د توجه دلاؤ نوټس په ذریعه اوکړه، زه به ورته دا Request اوکړم چه که په هره محکمه کښ په هر خانے کښ داسے کار کیږی چه د خپلے صوبے سړے Affect

کیږی، د هغے د پاره دِ دوئ کوشش اوکړی چه خپل سرے Affect نه شی او دا داسے قسمه Deputations دِ نه کوی خکه چه د دے نه زمونږ د صوبے د خپلو خلقو د ترقئ امکانات ختمیږی۔ (تالیاں)

جناب محمد ایوب خان آفریدی: جناب سپیکر صاحب! یہ بات -----

جناب سپیکر: ویسے یہ بھی کال اٹینشن نوٹس ہے۔

جناب محمد ایوب خان آفریدی: ٹھیک ہے سر۔ سر! یہ جس آدمی کو ڈائریکٹر لگایا گیا ہے لوکل فنڈ آڈٹ میں، تو اس کا تعلق بھی اسی صوبے سے ہے۔ وہ نوشہرہ سے تعلق رکھتا ہے۔ پہلے بھی آٹھ سال ڈائریکٹر لوکل فنڈ آڈٹ رشید صالح رہا ہے اور جس آدمی نے پروموٹ ہونا ہے، ابھی اس کا ٹائم برابر نہیں ہوا ہے۔ تو جب اس کا ٹائم آئے گا تو وہ پروموٹ ہو کر اپنی جگہ چلا جائے گا۔ اس کو حکومت دوسری جگہ ہٹا بھی سکتی ہے۔ وہ عدالت میں گیا اور عدالت نے بھی یہ فیصلہ کیا ہے، مطلب ہے کہ یہ آدمی لگ سکتا ہے، قانون کے مطابق لگا ہے۔ تو میرے خیال میں جب دوسرا آدمی پروموٹ ہوگا تو اس کی پروموشن میں کوئی رکاوٹ نہیں ہوگی۔ اس کا بھی اسی صوبے سے تعلق ہے، جس کو لگایا گیا ہے تو حکومت اس کو ہٹا کر دوسرے کو لگا دے گی جب اس کی پروموشن ہوگی۔

حاجی محمد عدیل: پوائنٹ آف آرڈر۔ جناب سپیکر! بات یہ ہے کہ اگر ہمارے صوبے کا کوئی بھائی فیڈرل سروسز میں ہے تو وہاں پروموشن کے بڑے چانسز ہیں اور میرے خیال میں ایک قانون کے تحت کچھ لوگ ہمارے صوبے میں بھی آ کر کام کر سکتے ہیں۔ یہاں صورتحال جو بتائی گئی ہے ہمارے منظور شاہ صاحب نے اور احمد حسن صاحب نے، وہ بالکل مختلف ہے۔ اگر ہمارے صوبے میں کوئی ایسا آفیسر ہے جس کی Promotion due ہے اور وہ پوسٹ خالی ہوتی ہے تو یہ بڑی ناانصافی ہے کہ ہم فیڈرل سروس سے، بے شک وہ ہمارے صوبے کا کیوں نہ ہو، وہ سیٹ وہاں چھوڑ کر یہاں آئے، تو کیا یقین ہے کہ وہ جو

سیٹ وہاں چھوڑ کر آئے گا تو وہاں ہمارے صوبے کا آدمی بھرتی ہوگا یا ہمارے صوبے کے آدمی کو وہ سیٹ ملے گی؟ ہو سکتا ہے کہ وہ سیٹ جو وہ چھوڑ کر آ رہا ہے' وہاں کسی دوسرے صوبے کے آدمی کو وہ سیٹ مل جائے' تو دو نقصان ہوگئے' ایک تو یہ کہ جس کی Promotion due ہے' وہ رہ جائے گا اور وہ سیٹ ہمارے صوبے سے چلی جائے گی۔ تو میں یہ سمجھتا ہوں کہ بی بی نے جو بات کی ہے' یہ بات صرف اس ایک کیس کے حوالے سے نہیں ہونی چاہئے' اس پراونشل گورنمنٹ کی یہ پالیسی ہونی چاہئے کیونکہ یہ پراونشل گورنمنٹ ہے اور پراونشل سروسسز کا تحفظ ہمارا کام ہے۔ شکریہ جی۔

میاں افتخار حسین: جناب سپیکر صاحب! زہ پہ دے وساطت سرہ خبرہ کوم چہ زمونږ Consolidation Committee هم دے چیف منسټر صاحب جوړہ کړے وہ، پہ هغے کښې دا نکتہ هم زیر غور راغلے وہ او هغوی خپل Recommendations کښې دا خبرہ کړے دہ چہ د وفاقی حکومت کوم نوکران دی، هغوی بہ دے صوبے تہ خکہ نہ راځی چہ Already financial بوجھ پہ دے خائے خپل کافی دے۔ نو پکارنہ دہ چہ هغہ دلتہ راشی او پہ دے خائے بوجھ شی۔ نو دا خبرہ اټل دہ او زمونږ د طرف نہ Recommendation تلے هم دے۔ نو ستاسو پہ وساطت وایو چہ پہ دے دِ عمل اوشی او وفاقی نوکران دِ زمونږ صوبے تہ را نہ شی۔

جناب سپیکر: جناب ہمایون سیف اللہ خان۔

جناب ہمایون سیف اللہ خان: جناب سپیکر صاحب! بیگم صاحبہ نے بڑی اچھی بات کی ہے' جو ان کی میرٹ کی پالیسی ہے' وہ ہونی چاہئے اور ہم سب اس سے اتفاق کرتے ہیں مگر ایک آدھ جگہ پر ایسا نہیں ہے۔ میں یہ اسمبلی کو بتانا چاہتا ہوں کہ سی آر بی سی جو ایک کینال ہے' اس میں لینڈ کلکٹر کی ایک جگہ خالی ہوئی تو اس میں جناب' گریڈ سترہ کے ایک

افسر کو لگایا گیا اٹھارہ کی پوسٹ پر۔

جناب بشیر احمد بلور (وزیر آبپاشی و آبنوشی)، جناب سپیکر صاحب! ډیره مهربانی۔ څنګه چه زمونږ وروڼو خبرے اوکړلے او بیا احمد حسن خان ډیر چه دا Crystal Policy، دا Honesty او دا میرټ به کوؤ، سپیکر صاحب، زمونږ د حکومت دا بنیادی اصول دی چه مونږه هره یوه خبره به کوؤ نو هغه به انشاء الله په میرټ کوؤ۔ کوم پورے چه د دے موجوده آډیټر جنرل صاحب خبره ده، نو په دے کښې داسے ده چه دوئ کورټ ته هم تلی وو، څنګه چه زمونږ ورور اوفرمائیل۔ په کورټ کښې د هغوی خلاف Stay Order ختم شوے دے او دا سړے چه دے، نو هلته دوئ سره یو کس هم داسے نه وو چه دومره ګرېډ نے وے چه د هغه په خائے به دے چینرمین لږیدلے وے۔ په دے وجه د بهر نه سړے راوستے شوے دے۔ څنګه چه زمونږ Treasury Benches خلقو هم مهربانی اوکړه، اپوزیشن والا هم، زه د حکومت د سائډ نه دا Propose کوم چه دا دِ Concerned Selection Committee ته لاړ شی۔ هلته به Thrash out هم شی چه زیاتے شوے وی نو انشاء الله مونږه به خپله صوبه کښې داسے زیاتے نه پریږدو جی۔

حاجی عبدالرحمان خان، وزیر صاحب خو ډیره ښه خبره اوکړه خو زه یو تپوس کوم که هر کله یو شے ده ته دفتر کښې مونږ په ګوته کړو چه سینیئر نے جونئیر کړے دے او جونیئر نے سینیئر کړے دے، نو د دے د پاره به دوئ څه کوی؟ زه یو مثال پیش کولے شم خو ده ته به نے خان له دفتر کښې پیش کړم چه سینیئر، جونیئر شوے دے او جونیئر، سینیئر شوے دے۔ زه د بی بی د خبرے ډیر زیات تائید کوم او دا خبره ټولو ته کوم چه اصول، اصول وی، مونږه رښتیا خبره دا

ده، بار بار دا خبره کوؤ په دے باندے د دوئ نه خفا کیږی، مونږ ته یوه لاره ښودلے شوے وه چه په دے لاره خئ، خو په اصولو خئ۔ نو چه مونږ نه بے اصولی اوشی نو څه خبره نه ده۔ دا به د ده سره تعلق نه لری خو بهرحال دے سینیئر وزیر پاتے دے، جواب دے کوی نو ده ته به نے زه اوښایم او په هغے باندے به بیا عمل کوی۔

وزیر آبپاشی و آبنوشی: زه عبدالرحمان خان ته دا تسلی ورکوم چه دا د دوئ حکومت دے او زمونږ د حکومت د خدائے په فضل سره بنیاد چه دے نو د خلقو د خدمت دے او مونږ د خدائی خدمتگار تحریک سره تعلق لرو او زمونږ Coalision ورونړه غواړی چه دا صوبه ترقی اوکړی او مونږ دلته داسے غیر قانونی کار او بغیر د میرټ به انشاء اللہ تعالٰی یوه خبره هم نه کوؤ۔ نو زه دوئ ته دا تسلی ورکوم چه دوئ دا کومه خبره Point out کوی، په هغے باندے به انشاء اللہ مکمل عملدرآمد کوؤ۔

جناب سپیکر: یو کس نے Move کړئ چه دا کمیټئ ته ورکول غواړی۔ یو کس نے Move کړئ۔

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! میں تحریک پیش کرتا ہوں کہ یہ جو مسئلہ آپ کی انتہائی مہربانی سے زیر غور آیا اور جناب منسٹر صاحب نے یقین دہانی کرائی، یہ سلیکٹ کمیٹی کو ریفر کیا جائے۔

جناب سپیکر: سټینډنګ کمیټئ ته ولے نه ریفر کوئ؟

جناب احمد حسن خان: اچھا، سٹینڈنگ کمیٹی کو ریفر کیا جائے۔

جناب محمد طارق خان سواتی: جناب سپیکر صاحب! میں یہ گزارش کرونگا کہ یہ صرف اس ایک ڈائریکٹر صاحب کا مسئلہ نہیں ہے بلکہ بہت سارے ڈیپارٹمنٹس میں ہے۔ جونیئر لوگ

سینئر پوسٹوں پر بیٹھے ہیں۔ تو میرے خیال میں، مَیں Amendment یہ پیش کرتا ہوں کہ جتنے فاضل ممبران کے پاس ایسے کیسسز ہوں، وہ سارے اس کمیٹی کو ریفر کریں۔

وزیر آبپاشی و آبنوشی: ہمیں تو کوئی اعتراض نہیں ہے، بے شک ان کے پاس کچھ بھی ہو تو وہ کمیٹی کو بھیج دیں۔

جناب سپیکر: داسے کار دے چه کمیټئ ته چه تاسو یو شے په حواله کوئ -----

حاجی محمد عدیل: یہ کونسی کمیٹی کو جائے گا؟ دیکھیے ناں، یہ مسئلہ جو پیش کیا گیا ہے، یہ فنانس کو جائے یا سروسسز ایڈمنسٹریشن کو جائے؟

جناب سپیکر: ایس اینڈ جی اے ډی، ولے چه Service matter دے کنه - پروموشن دے، دا به ایس اینڈ جی اے ډی ته ریفر کیږی۔

جناب عبدالسبحان خان: طارق خان چه کوم Amendments پیش کړل، دا دِ هم دے سره Connect شی چه کومو ممبرانو ته دا مسئله وی چه هغوی نشاندهی اوکړی۔

جناب سپیکر: زه تاسو ته عرض اوکړم، د نورو باره کښې ګورئ جی، یو Specific شے به تاسو کمیټئ ته ورکوئ۔ اوس جنرل چه دا خومره دی او نورکیږی نو دا خو به د هغه کمیټئ ټول دغه اوکړی۔ اوس فی الحال د Instance case کال اټینشن نوټس دے او دا هغوی Move کړو او زه ئے تاسو ته پیش کوم۔

Is it the desire of the House that Call Attention Notice No. 113, moved by Syed Manzoor Hussain Bacha, may be referred to the Standing Committee?

(The motion was carried.)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it. The 'Call Attention Notice' is referred to the Standing Committee on S & GAD. The sitting is adjourned for the tea break and we will re-assamble at 11.30. Thank you very much.

(ایوان کی کارروائی چائے کیلئے ملتوی ہوگئی۔)

(وقفہ کے بعد جناب سپیکر مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔)

نوابزادہ محسن علی خان: جناب سپیکر! پوائنٹ آف آرڈر۔ نیشنل فنانس کمیشن ایوارڈ کی جو رپورٹ ہے Under Article-165 ' ابھی تک اس کو -----

Mr. Speaker: When we reach that stage then you raise the point of order. We have not yet reach that stage.

Nawabzada Mohsin Ali Khan: Sir, this stage will never reach, Janab Speaker.

Mr. Speaker: This is the Ministry of Forest whom I am going to call upon.

Nawabzada Mohsin Ali Khan: No Sir, you do not call upon any body.

میں صرف یہ ایک گزارش کر رہا تھا That there is a report which has to be tabled, the Government is bound to table it. Budget has been presented, I had written to you three and a half months ago, that

آپ نے مجھے جواب دیا تھا کہ The Government the report should be tabled. لیکن ابھی تک اس کو ٹیبل نہیں کیا گیا۔ تو Can you kindly direct will table it.

the Governmnet that the report -----

جناب سپیکر: د څه باره کښې دے؟

نوابزادہ محسن علی خان: یہ جی نیشنل فنانس کمیشن ایوارڈ رپورٹ کے بارے میں ہے۔

جناب سپیکر: جی!

Nawabzada Mohsin Ali Khan: Recommandations, they have to be tabled in the House.

جناب سپیکر: جی۔

ایک آواز: منسټر نشته۔

نوابزادہ محسن علی خان: دا منسټر ناست دے، He is also a Minister.

Minister for Education: I am not proper Minister.

Nawabzada Mohsin Ali Khan: Sir, according to the Constitution it is a collective responsibility of the Cabinet. There are two Ministers sitting here.

Mr. Speaker: You must get a proper reply from the proper Minister.

Nawabzada Mohsin Ali Khan: Sir, there is no such thing as proper Minister. A Minister is a Minister, whether he is improper or proper.

جناب سپیکر: منسټر صاحب! تاسو تشریف راوړئ۔ دا این ایف سی ایوارډ، هغوی وائی چه کاپیانے مونږ ته اوسه پورے نه دی ملاؤ شوے۔ تاسو مهربانی

اوکړئ، هغوی ته څه ایشورنس ورکوئ او که نه ورکوئ؟

وزیر آبپاشی و آبنوشی: بالکل جناب، دوئ چه کومه خبره کړے ده، مونږ دوئ سره Agree کوؤ - مونږ به انشاء الله هغه Table کړو - اوس I don't know that where are the copies and we will table it in the next Session.

Mr. Speaker: He is the proper Minister.

Minister for Irrigation: At this stage, I can not produce the copies, Insha Allah in next Session we will table.

Nawabzada Mohsin Ali Khan: Sir, for the last three months, the Government is giving an assurance -----

وزیر آبپاشی و آبنوشی: جہاں تین مہینے ہوگئے ہیں تو ایک پندرہ دن اور دیدیں ناں۔

مسودات قانون

Mr. Speaker: I direct the Government that they should supply the copy wihthout fail immediately. The honourable Ministe for Forest, NWFP, to please move that the North-West Frontier Province Hazara Forest (Amendment) Bill, 1997 may be taken into consideration at once. Honourable Minister for Forest, NWFP, please.

Mr. Fateh Muhammad Khan (Minister for Forest): Mr. Speaker Sir, I beg to move that the NWFP, Hazara Forest (Amendment) Bill, 1997 be taken into consideration at once.

Mr. Speaker: The motion before the House is that the North-West Frontier Province Hazara Forest (Amendment) Bill, 1997 may be taken into consideration at once. Is it the desire of the House that the Bill be taken into consideration at once?

(The motion was carried.)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it.

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! دا بِل د رولز مطابق پکار ده چه کمیټۍ ته لاړ شي۔ دا دِ کمیټۍ ته لاړ شي خکه چه هلته په دے باندے بحث اوشي او د پاس کولو د پاره چه څه کیږي، هر څیز د پاره رولز Suspend کول څه بنه طریقه نه ده او داسے یو جلدی هم نشته چه ----

جناب سپیکر: هسے یو عرض اوکړم پیر محمد خان، څه Amendment په دے باندے تاسو چا ورکړے دے؟

جناب پیر محمد خان: دے رولز 85 کښې دوئ دا لیکلی دی جناب سپیکر صاحب، چه کله دوئ Consideration دغه د پاره Move کړی نو په دغه وخت کښې یو ممبر دا وئیلے شي چه دا دِ کمیټۍ ته لاړ شي۔

جناب سپیکر: نه جی، هغه بیا Rule 100 hit کوی کنه۔ درے ورځے مخکښې به تاسو Notice of amendmend ورکوئ - بهرکیف تاسو پرے Discussion کولے شئ چه Consideration اوس اوشو، تاسو پکښې څه Discussion کول غواړئ نو هغه پرے کولے شئ، جواب ئے کولے شئ۔

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! دا رولز 85 تاسو اوګورئ کنه۔

جناب سپیکر: او جناب ما کتلے دے۔

Mr. Pir Muhammad Khan: Sub rule (2) (a) -----

جناب سپیکر: یو منټ جناب۔

جناب پیر محمد خان: بښه جی، دا 37 صفحه ده، سر۔

جناب سپیکر: ټهیک شوه۔

Mr. Pir Muhammad Khan: "If the Member in-Charge moves that his Bill be taken into consideration, any Member may move as an amendment that the Bill be referred to the appropriate Standing Committee or a Select Committee".

نو زه په دے کښ دا Propose کوم چه دا کمیټۍ ته لاړشی او زما یقین دے چه منسټر صاحب به دے سره متفق وی۔

جناب سپیکر: اوس تاسو Rule 100 ته لږ لاړشئ جی۔

جناب پیر محمد خان: څه جی؟

جناب سپیکر: Rule 100 ته لږ لاړشئ۔

جناب پیر محمد خان: سپیکر صاحب! زما خیال دے منسټر صاحب به دے سره متفق وی او هغه به داسے خلاف په دے کښ نه کوی۔ Three days خو جناب سپیکر صاحب، په دے کښ چهټی هم راغله، ممبران پکښ کلو ته تلی وو۔

جناب سپیکر: Sorry که څه خبره کول غواړئ او Discussion پرے کول غواړئ نو You are at liberty. بالکل تاسو پرے هم اوکړئ او نور څوک د پرے هم اوکړی۔ خو زما خیال دے، څه خاص به نه وی خا مخا پیر محمد خانه، ----

نوابزادہ محسن علی خان: جناب سپیکر صاحب۔

جناب سپیکر: جی!

نوابزادہ محسن علی خان: جناب سپیکر صاحب! ایک گزارش آپ سے کروں گا-----

جناب سپیکر: آپ کے حلقے میں تو فارسٹ نہیں ہے ناں؟

نوابزادہ محسن علی خان: نہیں سر، ہے۔ (قہقہے)

جناب سپیکر: اچھا!

نوبزادہ محسن علی خان: جناب سپیکر! میری یہ گزارش ہے آپ سے، آپ تو خود ایک قانون دان ہیں، Sir, with your experience, you know to bulldoze legislation, it is never good. یہ بات جناب سپیکر صاحب، میں ختم کر لوں، سر! یہ بات On the floor of the House in the Senate -----

Minister for Irrigation: Point of order, Mr. Speaker.

Nawabzada Mohsin Ali Khan: Sir, what is the point of order?

Minister for Irrigation: I explain my point of order.

Nawabzada Mohsin Ali Khan: Have I violated the rules or the Constitution?

جناب سپیکر: دا یوه خبره زه تاسو ته اوکړم چه د پوائنټ آف آرډر اهمیت چونکه ډیر زیات وی، تاسو په خپلو کښې یو Understanding پیدا کړئ چه یو ممبر خبره کوی نو لږه مهربانی کوئ، یو سیکنډ دوه ورته غوږ ږدئ، بیا خیر دے په پوائنټ آف آرډر پاڅئ او که په جواب کښې پاڅئ۔

نوابزادہ محسن علی خان: جناب سپیکر صاحب! آپ نے خود اخبارات میں پڑھا ہوگا کہ اس

بارے میں سینیٹ اور نیشنل اسمبلی میں اس پر بہت زیادہ شور ہوا ہے کہ Legislation کو
آپ مہربانی کرکے بلڈوز نہ کریں۔ یہ ہم مانتے ہیں کہ گورنمنٹ کے پاس اتنی اکثریت ہے
کہ They can bulldoze any legislation in matter of five minutes. یہ ہم
گورنمنٹ کی اتھارٹی کو چیلنج نہیں کر رہے۔ The question is what is the hurry?
Why can not a Bill be sent to a Committee, thoroughly examined.
Let the Committee comes up with all those supposed to be referred
to Committees. According to the rules, all Bills are supposed to go.
یہ علیحدہ چیز ہے کہ The Government ask for relaxation in rules, he want
میری یہ گزارش ہے جناب سپیکر صاحب ' That this is to bulldoze it through.
آپ مہربانی کریں Certain Members which not a good precedence.
بہت سارے ہیں ' From Hazara and Malakand, they belong to Hazara,
would like to have this Bill examined. It should go to the Committee.
Let it be discussed there, and Sir, it can all come up in so important
like you called this emergency Session now after five day, you can
call another emergency session after another ten days.

جناب آفتاب احمد خان شیرپاؤ (قائد حزب اختلاف): جناب سپیکر! زما خو دا خیال وو چه د دے چونکه کمیټئ ته د Refer خبره ده نو خکه ما آنریبل ممبر ته اوونیل چه تاسو پرے خبره اوکړئ۔ اوس چونکه تاسو وئیلی دی چه په دے باندے څوک خبرے کول غواړی Consideration stage باندے، نو په دے دِ خبرے اوکړی۔ جناب سپیکر! ما دے خپل Budget Speech کښې هم دے National Drainage Programme باره کښې خبره کړے وه۔ هغه وخت کښې

هم ما دا نشاندهی کړے وه چه دا پروګرام د دے صوبے د پاره سود مند نه دے او د دے به د دے خانے په Economy باندے، د دے خانے په زمیندارو باندے ډیرخراب اثرات وی۔ دا دویمه مسئله ده چه هاؤس کښې په دے باندے ډیر Debate اوشو۔ د دے نه مخکښې په این ایف سی ایوارډ باندے Debate اوشو او زمونږه دا Point of veiw وو چه Care Taker حکومت ته دا اختیار نه وو چه هغوی د این ایف سی ایوارډ اعلان کړے وے۔ پکار ده چه ElectedGovernment ته ئے دا موقع پریښولے وے۔ خیر بهرحال هغه خو له Lay شوے هم نه دے۔ مونږه پرے په بجټ کښې ډیر وسیع تقاریر اوکړل خکه چه د هغے اثرات او دا یو Income source زمونږه وو، د هغے په وجه مونږه زیات وخت په این ایف سی ایوارډ باندے اولګولو۔ په هغے تقریر کښې ما دا ونیلی وو د دے نیشنل ډرینج پروګرام په باره کښې۔ جناب سپیکر صاحب! دا دویمه مسئله ده چه کوم دے کیئرټیکر کورنمنټ بلډوز کړے ده او د ورلډ بینک سره ئے په دے باندے دستخط کړے دے او اوس په هغے باندے عمل شروع کیږی خو د عمل شروع کیدو نه مخکښې هغوی څه Conditionalities ایښی دی او هغے کښې یوه Conditionality دا ده، دا PIDA ، دا ما هغه وخت کښې د دے نشاندهی کړے وه، ما ته پته وه چه دا اوس را روانه ده په دے کښې دا سلسله چه ده، په دے کښې څه خطرات دی، هغه مونږ ته پته ده۔ نیشنل ډرینج پروګرام د اربونو روپو دے او دا هم ونیلے کیږی چه دا ډیر Soft Loan دے او داسے Loan مونږ ته بل نه شو ملاویدے او د دے نه فائده اوچتول پکار دی۔ جناب سپیکر صاحب! فائده ضرور اوچتول پکار دی د داسے Soft Loan نه، خو فائده د دے چا ته رسی؟ د دے ټوټل فائده تقریباً 95 % or 96 % سندھ

او پنجاب ته رسی۔ ډرینج پروګرام دے، نو زمونږه خو نیچرل ډرینج دے د دے صوبے او اوبه Drain کیږی۔ سندھ ته هغه اوبه لاړے شی او زمونږ دلته داسے د ډرینج مسئله نشته۔ زمونږ مسئله چه ده نو هغه Surface Water مسئله ده۔ ما په هغے کښ هم دا وئیلی وو چه دا پروګرام اوس چه د دے د پاره دا Laon sanction شو، بیا دے ملک له یو اهم بین الاقوامی اداره چه کوم فنډ ورکوی نو هغوی د Surface Water د پاره پیسه نه شی ورکولے خکه چه دومره پیسه په یو ملک کښ هغوی نه Invest کوی او نن سبا دوئ Priority ورکړیده Drainage Programme له، په دے صوبه کښ به ډیر کم کارکیږی۔ د هغے تقریباً د اربونو روپو دا پروګرام دے او په دے صوبه کښ چه د هغے کومه حصه ده، هغه د تیس یا بتیس کروړ روپو نه زیاته نه ده۔ دا ټوټل د دے صوبے په هغے پروګرام کښ حصه ده خو په دے کښ به مونږه خپل Share هم ورکوؤ۔ دا Rupee component چه دے، هغه زمونږه هم حصه ده، هغه به مونږ ورکوؤ په دے پروګرام کښ۔ دا داسے پروګرام نه دے چه بس نن سبا چه خبره کیږی چه Laon دے او دا ډیر Soft Loan دے، Soft Loan دے خو Loan دے۔ دا پیسه به ورکول غواړی۔ هم په دے طریقے سره زمونږه دا Loans چه دی، دا Accumulate شو او دومره لوئے بوجھ چه دا کوم په دے ملک باندے راغلے دے، دا ټول هم دے Loan سره راغلے دے او نن دا صورتحال په دے ملک کښ جوړ شوے دے۔ دے ته کیدے شی ډیر هلته بعض خلق داسے وی په مرکز کښ چه هغوی ته د دے نه فائده به رسی خو زمونږ په دے صوبه کښ، ما تاسو ته د دے مخکښ هم نشاندهی کړے وه، دا تسلسلات شته۔ اوس جناب سپیکر، د هغوی یو Conditionality دا ده چه ځلور واړه

صوبے به دا PIDA چه دے، دا به صوبائی اسمبلئ پاس کوی- اتهارټیز جناب سپیکر، په دے ملک کښې ډیرے جوړے شوے دی او خپل تاریخ ته اوګورئ، کومه اتهارټی اوسه پورے Effectively چلیدلے ده؟ هره اتهارټی جوړه شی، خلق پکښې نوکران شی او ډیره شوشا نے وی خو په آخر کښې نتیجه نے څه را اوځی، چه په هغوی باندے قرضے زیاتے شی او د هغوی اخراجات زیات شی، آمدن نے کم وی او هم هغه یو Loosing concern شی- بیا د ګورنمنټ نه Loans اخلی او هغه اتهارټیز په چلیږی- د دے PIDA چه کوم نور مسائل دی، هغه زیات سنګین دی- په دے کښې جناب سپیکر، د ټولو نه مخکښې دا ده چه PIDA یو خل جوړه شوه نو دا یو اتهارټی ده- ایریګیشن ډیپارټمنټ په دے کښې ضم شو، دا ایری ګیشن ډیپارټمنټ به اوس ختم شی او دا PIDA به اوس جوړه شی - د PIDA constitution څه دے؟ زه صرف مخکښې په Constitution راځم، بیا د دے چه زمیندارو ته څه نقصانات دی، نو په هغے به خبره کوم- Constitution څه دے؟ یو به نے چیئرمین وی، هغه به ګورنمنټ Appoint کوی او نور به ورسره ممبران وی- ټول Government Functionaries دی، یو به پکښې صرف د هغوی نه Representative اخلی- نو چه دا بادی یو خائے کیږی، هم هغه ګورنمنټ سرونټس چه سیکرټریان دی، هغوی به یو خائے شی او فیصلے به اوکړی او په خلقو باندے به نے Impose کړی- دا خو د دے Constitution شو چه اتهارټی به وی- انګریزانو د دے ملک د پاره د ایریګیشن یو نظام جوړ کړے دے، نهرونه دی او تر اوسه پورے ټهیک ټهاک چلیږی، یوه سلسله ده په هغے کښې بهتری کیږی او خلقو ته اوبه ملاؤیږی او آبیانه ترے نه Collect کیږی- دا سلسله په دے ملک کښې روانه ده

او ډیرے ښے طریقے سره روانه ده۔ اوس دا Conditionality چه اوشوه نو دا یو Autonomous body جوړه شوه PIDA ، دوئ به بیا مخکښ ایریا واټر بورډ جوړوی۔ ایریا واټر بورډ څه دے؟ دا به یو پرائیویټ غوندے اداره وی لکه دا PIDA چه ده۔ د دے صوبے څومره اوبه چه دی، دا به د هغوی په اختیار کښ راشی۔ دا اوبه به دوئ بیا ایریا واټر بورډ ته اووائی چه په دے ریټ باندے مونږه دا اوبه تاسو له درکړے۔ ایریا واټر بورډ به بیا مخکښ یو یو دا شاخونه چه دی کنه جی د دے به فارمر آرګنائزیشن جوړوی۔ دا اوبه به بیا په هغوی باندے هغوی خرڅوی۔ د دے ONM چه دے، هغه به هم په دے کښ دغه کیږی او دا ایریا واټر بورډ چه دے، دوئ به په خپلو پښو باندے اودریږی چه د دے څومره خرچ دے، دا به د اووو کالو نه واخله تر لسو کالو، پورے خپل هغے باندے دغه کوی او چه څه خرچ پرے راځی، د دے لازمی خبره ده چه دومره خرچونه دی په دے باندے، په دے کښ ONM دے، په دے کښ ډرینج کوم چه دے، په هغے باندے دے۔ په دے کښ زه تاسو ته جناب سپیکر صاحب، وایم چه په دے کښ کوم کوم څیزونه راځی۔ تر اوسه پورے خو آبیانه اغستے کیده په نهری اوبو باندے، په دے کښ اوس سول کینالز راغلل، په دے کښ دا په هزاره او مالاکنډ کښ چه کوم واټر چینلز دی، دا پکښ راغلل، کهتے پکښ راغلے، ولے پکښ راغلے، د چینو اوبه پکښ هم راغلے۔ دا ټول چه دی، دا په دے کښ شامل شو او په دے ټولو باندے به اوس ONM او د دے چارجز لګی۔ په دے کښ کوم ټیوب ویل چه ایریګیشن د پاره جوړ شوی دی، هغه به Pass on کیږی او هغه به پرائیویټائز کوی، په زمیندارو باندے به هغه خرڅوی او اوبه به بیا هغوی چلوی۔ کوم چه د سکارپ د پاره، Salinity د پاره ټیوب ویلز

جوړ شوی دی، په هغے باندے به هم چارجز لگی او هغه چارجز به بیا زمیندارو ته ټرانسفر کوی- د دے نه علاوه د Drainage چه کوم Drains دی، د هغوی د صفائی به هم Drainage charge لگی، هغه به هم په زمیندارو باندے راځی- دا اوس دے کښې دا دغه دے چه په فارمر آرگنائزیشن باندے چه په وخت کومے اوبه خرڅے شوے، نو هغوی به مخکښې پیسے ورکوی او هغه به بیا په زمیندارو باندے هغه اوبه خرڅوی- اوس په دے کښې دا هم کیدے شی چه د چا سره زیاتے پیسے دی او لونے زمیندار دے، هغه به پیسے ورکړی چه دا پیسے واخله او دا اوبه ما له راکړه- دا خو یو Lease شو، یو Contract شو- په دے طریقه به دا ټوله سلسله وی، هغه به هغه له اوبه ورکړی او پیسے به ترے نه واخلی او نور چه کوم ورکوټی زمیندار دی، څوک چه په هغه وخت پیسے نه شی ورکولے، هغه ته به اوبه نه ملاؤیږی- دا سلسله تر اوسه پورے په دے ملک کښې چلیدلے نه ده- د دے طریقه کار چه کوم دے، دا یو ډیر داسے دغه دے چه په دے باندے زمیندار ما مخکښې اووے چه ایگریکلچر ټیکس اولگیده، په ګړه باندے ټیکس اولگیده، انیریل سپرے په هغه ټیکس کښې اضافه اوشوه- اوس دا واټر چارجز هم په هغے کښې یو Conditionality ده چه هر کال به آبیانه % 25 زیاتیږی- نو جناب سپیکر صاحب، تاسو پخپله زمیندار یئی او تاسو ته پته ده چه زمینداریٔ کښې نن سبا څه دی؟ چه دومره خرچے پرے راشی نو دا به څنګه پوره کیږی؟ دا د اوبو نظام چه کوم اوس د لمدے پټواری چه ورته واتی، هغه جوړ کړے دے او هغه د هر چا خپله خپله حصه جوړه کړے ده- د دومره مودے نه دا سلسله چلیږی، دا اوس یو داسے اتهارټی ته، داسے ایریا واټر بوردز ته، داسے فارمر آرگنائزیشن ته دا حواله کول او

هغوی ته وئیل چه دا ته چلوه او د دے نه به پیسے هغه کوے او دا ټوټل اوبه چه دی، دا به د دے PIDA په سپرد شی او هغوی به بیا دا اوبه مخکښ خرڅوی- د دے ټوله ذمه واری دا دوئ اخلی- ایری گیشن ډیپارټمنټ به ختم شی، دا به په دے کښ ضم شی او په دے کښ چه د دوئ څه ضروریات وی، هغه کسان به ترے پریږدی او نورکسان به سرپلس شی او هغوی به لاړشی- زه په دے باندے حیران یم چه دا به څنگه کیږی؟ دے کښ اوس دوه ډبل ټیکسیشن په دے لحاظ سره دی چه PIDA به خرڅے کړی دا اوبه په ایریا واټر بورډ باندے او هغوی به پکښ بیا ONM charges اضافی اولگوی- دلته کښ خو به 25 % کال په کال آبیانه زیاتیږی، ONM Charges به بیا وروستو او د فارمر آرگنائزیشن نه به بیا ایریا واټر بورډ د ONM Charges اخلی نو زه په دے حیران یم جناب سپیکر صاحب، کوم سول کینالز چه زمیندارو پخپله Maintain کول، په هغے باندے هیڅ آبیانه نه وه او دغسے دا کهتے شوے، ایریگیشن چینلز وو په غرونو علاقو کښ، د هغوی د اوبو نظام څه به هغوی پخپله Maintain کوؤ او چلولو به ئے- اوس په هغے ټولو باندے دا طریقه کار شروع شو- زما دا خیال دے چه یو خو دا سلسله به چلیږی نه او که یو خل دا ټول ایریگیشن ډیپارټمنټ تاسو ختم کړو او دا سلسله Collapse شوه، ستاسو ټول د زمینداریٔ هغه نظام چه دے، هغه به درهم برهم شی- بیا دوباره هغه دے نظام ته راوستل، دا به یو ډیر لوئے گران کار وی د دے صوبے د پاره- دلته دیر زمونږه ملگری د دے اسمبلیٔ ممبران زمیندار دی او په دے باندے پوهیږی او داسے علاقو سره هم تعلق لری- اوس خو ټول صرف د پشاور ویلی خبره نه ده، اوس خو دا ټول، دا کینال سسټم چه کوم خائے کښ دے هم نه، هغوی هم

په دے کښې راغلل او د دے ټولو غریبانانو نه پیسے اغستل او هغه هم مخکښې اغستل، بیا جناب سپیکر صاحب، دے کښې کوم اختیارات چه دے PIDA ته یا دوئ به مخکښې Delegate کوی، هغے کښې دا دی چه آبیانه چا په ټاټم ورنه کړه نو سرچارج به پرے لګی او دا دوئ ته اختیار دے چه سرچارج پرے هم لګولے شی۔ تر اوسه پورے خو دا سلسله ده چه غریب زمیندارکه لږ لیټ شو نو هغه ورسره ګزاره اوکړی او وروستو ترے نه هغه خپلے پیسے واخلی، اوس به ورسره سرچارج هم ورکوی۔ نو زما صرف په دے کښې دا دغه دے چه دا د دے صوبے د پاره، ما ته پته ده چه پاس کیږی به دا، ښکاری داسے چه د دے د پاره خصوصاً د اسمبلئ دا سیشن راغوښتلے شوے دے او په دے سیشن کښې به دا بل پاس کول غواړی خکه چه هغه Loan tied up دے د هغے پورے چه تر څو پورے دا PIDA جوړه شوے نه وی۔ خو د صوبے د بهترئ د پاره، د دے صوبے د زمیندارانو د تحفظ د پاره به Request وی، ما ته دا پته ده چه په حکومتی بنچز کښې ډیر زمینداران داسے دی چه هغوی به غواړی چه د دے مخالفت د اوشی خو چونکه اوس حالات مختلف دی د 14th Amendment نه پس، زه د هغوئ دغه نه کوم په دے کښې خو که دا بل چه دے، دا کمیټئ ته لاړو او هلته خپله رائے د ټول ورکړی او ما ته پته ده چه دا د دوئ ذمه واری ده او دا ورته وئیلے شوی دی چه دا به خا مخا پاس کوئ نو کم از کم یوه رائے به راشی او داسے قانون چه کوم جوړیږی، دا د نن د پاره نه دے، دا ټول عمر د پاره دے او داسے غلط قانون جوړول، دا زما په خیال د دے صوبے سره نا انصافی ده۔ دا زمونږ په وخت کښې مونږه ډیر Resist کړے وو۔ مونږه په دے باندے دستخطے داسے نه دی کړے۔ د نیشنل ډرینج پروګرام په کینرټیکر وخت کښې

منظوری ورکړے شوے ده۔ دا په مونږه باندے نے زور لګولے وو، مونږه اووے چه دا به کیبنټ د دے فیصله کوی خو د کیبنټ میټنګ بیا او نه شو۔ په دے باندے مونږه هیڅ فیصله بیا نه ده کړے۔ دا زمونږه وزیر صاحب ته ټول حالات معلوم دی او زما به دا تاسو ته التجا وی چه دا داسے یو طریقے سره پاس کول د دے صوبے سره زیاتے دے۔ زما دا Request دے چه دا د کمیټئ ته حواله شی چه په دے باندے دِ مزید غور اوشی چه د دے صوبے د بهترئ د پاره یو داسے قانون پاس شی چه خلق سبا دا اُو نه وانی چه دا یو د زیاتی او د ظلم قانون پاس شوے دے۔ Thank you.

<u>جناب سپیکر</u>، ہمایون سیف اللہ خان۔

<u>جناب ہمایون سیف اللہ خان</u>، جناب سپیکر صاحب! میری تقریباً ساری باتیں جو میں نے کہنی تھیں، وہ اپوزیشن لیڈر نے کہہ دی ہیں۔ میں بھی ایک دو باتیں کروں گا۔ جناب PIDA کیوں بنائی جا رہی ہے؟ جیساکہ انہوں نے فرمایا جناب، یہ اسلئے بنائی جا رہی ہے کہ ورلڈ بینک نے یہ ایک Condition لگائی ہے کہ وہ نیشنل ڈرینج اتھارٹی بنانا چاہتے ہیں اور ورلڈ بینک نے ان کو آٹھ سو ملین ڈالر دینے کا فیصلہ کیا ہے، جیساکہ انہوں نے بتایا کہ شارٹ لونز ہیں۔ ٹھیک ہے جناب، یہ بڑی اچھی بات ہے ہمارے سندھ کے بھائیوں کیلئے، ہمارے پنجاب کے بھائیوں کیلئے یہ بہت اچھی سکیم ہے مگر جناب، اس کا ہم پر، کیونکہ ہمیں خدا نے ایسی زمین دی ہے، ہماری Topography ایسی ہے، ہمارے سلوپ ایسے ہیں کہ ہمارا ڈرینج کا مسئلہ نہیں ہے، ہمارا مسئلہ تو یہ ہے کہ ہمارا تو پانی نہیں ہے۔ ہمیں تو جیسے انہوں نے فرمایا کہ Surface water development کیلئے پیسے چاہئے اور یہ پیسے اگر ایک دفعہ ڈرینج کیلئے ہوگئے اور ورلڈ بینک کی یہ Condition ہے کہ وہ پیسے آپ Change نہیں کر سکتے، وہ پیسے صرف ڈرینج کیلئے استعمال ہونگے۔ جناب ہمیں تو پیسے

چاہئے Surface water کیلئے۔ جناب! اس Surface water میں گومل زام آتا ہے، کرم تنگی ڈیم آتا ہے، اس میں منڈا ڈیم آتا ہے، پیور ہائی لیول کینال آتی ہے، سمال ڈیمز این ڈبلیو ایف پی آتے ہیں اور اس میں ٹانک زام، شیخ حیدر زام اور چونڈا ڈیم آتا ہے، Lining of canals آ سکتی ہیں۔ جناب! لفٹ ایریگیشن سکیمز ہوں، ٹیوب ویلز ہوں یا ڈگ ویلز ہوں، یہ سکیمیں ہم اس میں نہیں کر سکتے۔ ان سب پر تقریباً 50 billion rupees کا خرچہ آئے گا۔ یہ پراونشل گورنمنٹ کے ریکارڈ میں ہوگا، اس کیلئے اس سال ہمیں 100 کروڑ روپے دیئے ہیں جناب، Which is two percent of the whole scheme اور یہ ڈرینج میں جو پیسے چلے گئے تو یہ دو پرسنٹ بھی آپ کو نہیں ملیں گے۔ دو پرسنٹ دیئے ہیں اس بار، سو کروڑ دیئے ہیں پیور کینال کیلئے، ہم بڑے خوش ہیں مگر آپ کی ضرورت 50 billion rupees ہے سپیکر صاحب اور دوسری بات یہ ہے کہ PIDA بن گئی، خدانخواستہ یہ فیل ہو جاتی ہے، پھر کیا کریں گے؟ اس کیلئے سکیشن 18 میں کچھ ترمیم لائیں۔ پھر جناب سپیکر صاحب، ان کو چاہئے کہ دس سال کیلئے پانی کی قیمت مقرر کر لیں، ابھی سے کر لیں۔ اگر انہوں نے ایک چیز کو پاس کرنا ہی ہے تو دس سال کیلئے پانی کی قیمت مقرر کر دیں تاکہ پھر یہ نہ ہو کہ کل PIDA بن جائے اور روزانہ پھر اس کی قیمتیں بڑھاتے رہیں جس طرح کہ واپڈا روز بجلی کی قیمت بڑھاتا رہتا ہے۔ واپڈا اور اس میں کیا فرق ہوگا؟ وہ بھی اتھارٹی ہے اور یہ بھی اتھارٹی ہے۔

<u>جناب سپیکر</u>، زما خیال دے چہ Relevent points خو تاسو ټول اوونیل-----

<u>جناب ہمایون سیف اللہ خان</u>: اُو مے وئیل خو یو منټ په دے فنانشل باندے خبره کوم۔ تاسو دے بل کښې سیکشن 25 کښې 'Per year' ، میری یہ گزارش ہوگی کہ اس میں ماہوار ان کا بجٹ چیک کیا جائے By Accountant General جی Every month they should give a statement جس طرح کہ انڈسٹری میں ہر جگہ ہر مہینے

چیکنگ ہوتی ہے۔ تو یہ ایک Amendment ہے۔ Thank you very much.

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! یو خو د Constitution په حوالے سره د پوائنټ آف آرډر په شکل کښې په دے کښې به تاسو ته دا وړاندے کړم چه دا نشینل ډرینج سکیم په ټول ملک کښې، مرکزی حکومت هدایات کړی دی او پروګرام نے دا دے چه په ټولو صوبو کښې اوکړئ۔ اوس جناب سپیکر صاحب، تاسو ته پته ده، اکثر سینیټر ممبرانو ته زیاته پته وی چه یو Federal Legislative List دے او یو Concurrent List دے، اوس په Federal Legislative List کښې خو دا ایریګیشن سسټم نشته چه ایریګیشن سکیمونه به د مرکز سره وی یا به د هغوی په ایما باندے وی او په Concurrent List کښې هم زما په نظر نه دی راغلی که دوئ ته معلوم وی نو منسټر صاحب د هغه مونږ ته اوښائی۔ اوس جناب سپیکر صاحب، کومه خبره چه د آنین سره متصادم راغله نو اول مے په دے باندے پوائنټ آف آرډرخکه تاسو ته وړاندے کړو چه تاسو به پرے لږ سوچ هم اوکړئ چه په دے کښې تاسو څنګه فیصله اورولے شئ خکه چه دا ډیره اهم خبره ده۔ جناب سپیکر صاحب! بی بی به خفه کیږی نه، بعضے خبرو کښې زمونږ سترګے مجبوراً هغوی طرف ته اوګرځی خکه چه زمونږ مشره ده او محترمه ده، هسے نے هم مونږ ډیر عزت کوؤ، بیا د یو داسے پارټئ مشره ده چه د هغوی دعویٰ هم د دے صوبے د حقوقو ده او مونږ نے په هغے کښې سپورټ هم کوؤ۔ جناب سپیکر صاحب! چه کله مرکزی حکومت زمونږ په صوبه کښې لاس نور هم دننه کړو چه هغه په Concurrent List کښې نشته او د هغوی چه کوم Powers دی، په هغے کښې دننه نه دی۔ کوم یو څیز چه زما په صوبه کښې دے، هغه زما په اختیارکښې دے او په هغے کښې

هم هغوی لاس رادیخوا کړو او هغه اختیار نے زما نه واغستو او مرکز ته نے یوړلو، سبا له په هغے کښې % 25 اضافه د اوس نه هغه ما ته اولیکله چه % 25 اضافه به پکښې جاری وی، بیا 'Government may from time to time' ، دا الفاظ هم یو خائے کښې زما په نظر راغلی دی، د اسمبلئ نه مکمل اختیار واغستے شو۔ بیا د دے چه کومه Body جوړیږی جناب سپیکر صاحب، شیرپاؤ خان د هغے وضاحت اوکړو، په هغے کښې چه کوم گورنمنټ سرونټس دی، ښکاره خبره ده چه غټ بیوروکریټس دی چه هغه د مرکز ملازمین دی، لس قسمه سیکرټریان دی، نو مطلب دا دے چه Indirect طریقه باندے زما نه اختیارات واغستے شو۔ غوږ نے راله اونیولو خو په بله طریقه، لاس نے تاؤ کړو او په بله غاړه نے اونیولو۔ مونږ خو یو طرف ته د صوبائی حقوقو خبره کوؤ چه مونږ له زیات نه زیات حقوق راکړئ، زیات نه زیات اختیارات راکړئ او په بله غاړه چه کوم اختیارات زما سره دی، هغه را نه اخلی۔ د ټولو نه اول Objection سپیکر صاحب، زما دا دے چه زما نه اختیار واغستے شو او دا خبره چه نن زما نه د دے اختیار واغستے شو نو سبا را نه نورهم اغستے شی۔ په ایجوکیشن کښې نے را نه هم اغستے دے، په ایجوکیشن کښې نے Indirect اغستے دے۔ مونږ دے صوبے واله خو هسے خان خوشحالوؤ، اختیار را نه تلے دے۔ په دے کښې درنه اختیار لاړو۔ جناب سپیکر صاحب! ما ډیر وخت مخکښې په دے باندے یو مضمون لوستے وو چه د امریکے او د ورلډ بینک دا پالیسی ده چه مونږه د دوئ په ایریگیشن سسټم باندے قبضه اوکړه او د هغے د پاره هغوی مرکز سره ډیر وخت نه، شیرپاؤ خان ته به نے زیاته پته وی خکه چه دے وزیر اعلیٰ پاتے شوے دے چه په دے

باندے ډیر لونے چھیړ چھاړ کړے دے او په هغه وخت کښ دوئ به یا نه منله یا به ورته حالات داسے وو، نو په هغے وخت کښ هغوی ته اختیارات ملاؤ نه شو او د سابقه اسمبلو د ماتیدو په اعتراضونو کښ یو دا هم دے چه د هغے یو وجه دا بِل هم وو چه زمونږ مرکزی حکومت دا نه منله۔ بهرحال هغه زوړ حکومت والا ته به پته وی چه څه وو؟ خو دا یوه خبره جناب سپیکر صاحب، کوم یو څیز چه په Constitution کښ هغوی سره نشته او هغه زما نه اختیار اخلی -----

جناب سپیکر: پیر محمد خان! دا بِل دلته کښ فیدرل گورنمنټ راوړے دے که پراونشل گورنمنټ؟

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! هغوی ټولو صوبو ته دا وئیلی دی چه دا به پاس کړئ، نو مرکز خو اختیار واغستو کنه -----

جناب سپیکر: دا خو زبانی خبرے دی کنه -----

جناب پیر محمد خان: نو جناب سپیکر صاحب، پنجاب ته نے وئیلی دی -----

جناب سپیکر: دا خو تاسو خپل انفارمیشن وایئ۔

جناب پیر محمد خان: نیشنل ډرینج سسټم دے کنه -----

جناب سپیکر: تر څو پورے چه د Rules او د Constitution تعلق دے، دا ټهیک ده چه ستاسو دا څه خبرے دی، کیدے شی چه دا رشتیا وی، کیدے شی چه دا رشتیا نه وی خو تر څو پورے چه د آئین تعلق دے او تاسو زما نه په هغے باندے رولئ) غواړئ نو دا بِل پراونشل گورنمنټ راوړے دے او پاس کول یا Reject کول نے د دے اسمبلئ کار دے نو د Constitution سره د دے هیڅ تعلق نشته -----

جناب پیر محمد خان: نه، خیر دے تاسو به په دے باندے ښه تیاری اوکړئ او امید دے چه تاسو به هم زمونږ سره په دے کښې رائے ورکړئ خکه چه -----

جناب سپیکر: زه به رائے درکوم خو Stirctly تاسو ما ته یو Law proposition مخکښې کړو نو ما تاسو ته د هغے Law proposition رائے درکړه- که دے کښې دا وے Whereas we are directed by the Federal Government to legislate such and such thing and therefore, then the matter would have different. دا نورے خبرے چه کومے دی نو دا خو ټول انفارمیشنز دی او انفارمیشنز بیل شے دے او د بِل پیش کول د یو پراونشل گورنمنټ، هغه داسے که پراونشل گورنمنټ نن اووائی چه د فلانی Age سرے چه کوم دے، د Sixty years age سرے به چه په سکول کښې داخلیږی نو د هغه Age به مونږ پندره سال کړو نو بالکل که دا اسمبلی نے پاس کړی نو This is a law ولے چه اسمبلئ سره ډیر لوئے اختیار دے، Until and unless چه تر څو پورے هغه آئین سره په Conflict کښې نه وی- نو د دے چه دا تاسو کومه خبره کوئ، ټهیک ده چه پولیټکل سائډ نے یا دغه والا سائډ نے چه کوم دے، هغه به یا ټهیک وی یا به غلط وی، ولے چه زه خو دلته بحیثیت د جج ناست یم، زه خو هغے سائډ ته نه گورم، ما ته خو چه څه قانون کښې مخے ته پراته وی نو زه به هغے ته گورم- هغه نورسائډونه به نے تاسو ته ښه معلوم وی چه دا څنگه راغلے دے او ولے راغلے دے؟

جناب بشیر احمد بلور (وزیر آبپاشی و آبنوشی): جناب سپیکر صاحب! تاسو ته دا دومره تکلیف په دے وجه ملاوګیږی چه مونږ پوائنټ آف آرډر بند کړے دے گنی نو دا جواب مونږ دوئ له په پوائنټ آف آرډر کښې ورکولے شو-

جناب پیر محمد خان: تاسو خو به نے جواب ورکړئ جناب سپیکر صاحب، پکارخو دا ده چه دوئ اوس جواب راکړے وے۔ بهرحال جناب سپیکر صاحب، زیاتے خبرے خو شیرپاؤ خان اوکړے خو په دے کښ ډیرے خبرے داسے دی چه د هغے داسے په جلدئ کښ د پاس کولو ضرورت نه وو۔ یو خو منسټر صاحب مخکښ هاؤس کښ وعده کړے ده چه دا به کمیټئ ته ځی۔ بیا د رولز مطابق -----

جناب سپیکر: گورئ تاسو هر وخت د رولز حواله ورکوئ، په Cosideration stage باندے Discussion دومره Vast نه وی۔ په دے کښ ډیر Limitations دی خو بهرکیف ما تاسو Allow کړی یئ نو چه نورو ته هم پانچ، پانچ منټ ملاؤ شی۔ کیدے شی چه د گورنمنټ د طرف نه څوک خبره کوی، د بل نه څوک خبره کوی، د بل نه څوک خبره کوی۔

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! ستاسو خبره مونږ ته په سر سترگو منظوره ده، مونږ ته آرډر دے -----

جناب سپیکر: د پټانم به پکښ لږ خیال ساتئ۔

جناب پیر محمد خان: خو دومره خبره ده، د دے بِل دا اهمیت دومره زیات دے چه که په دے کښ مونږه جلدی اوکړو او که په جلدئ کښ نے پاس کړو نو په دے کښ ټوله صوبه تباه کیږی۔ زمونږه صوبه خو تقریباً ډهلوان ده علاوه د لږ خایونو نه او د دے فائده چه سندھ، پنجاب ته، ټهیک ده، هغه هم زمونږه ملک دے او مونږه په هغوی باندے هم خفه کیږو خو زما صوبے ته د دے بِل نه څه فائده ده؟ دے صوبے ته نے څه فائده نشته۔ دے کښ خو مونږ ته د سیلابونو نه د Protection walls ضرورت دے۔ دا دوئ چه کوم سسټمونه په دے کښ

اچولی دی، په دے صوبه کښې د هغے هیڅ فائده نشته بلکه اولټا زمونږه ذاتی لختی، نهرونه او ولے چه چا ذاتی جوړے کړے دی نو په هغه باندے ئے را نه هم قبضه اوکړه۔ نو جناب سپیکر صاحب، د رول 85 به زه بیا تاسو له حواله درکړمه چه دا بل دومره اهم دے چه دا یواخے سلیکټ کمیټئ ته نه، بلکه په دے کښې به زه دا اووایم چه په دے کښې د Sub rule 2 (a) لاندے دا یوه خبره ده "Circulated for the purpose of eliciting opinion thereon by a date to be specified in the motion" زه وایم چه دا تاسو Public ته Refer کړئ چه Public ته ئے وضاحت اوشی چه عوام د دے بل باره کښې څه وائی؟ او هغوی ته پاتم ورکړئ۔ په اخبارونو کښې به راشی، د ریډیو او د ټیلیویژن نه به خبر شی۔ دا زمونږه د صوبے د مستقبل خبره ده۔% 25 اضافه چه پکښې کیږی نو زمونږ صوبه کښې اوس هم د زرعی ټیکس او د مهنګائئ د لاسه زمینداران تباه دی چه % 25 دا اضافه کیږی په Irrigation کښې، دا اختیارات ټول مرکز واغستل نو جناب سپیکر، زما خیال دے چه صوبه به ټوله شاړه شی او که د شاړکیدو اراده ئے وی او چه دا خنګل کوئ، بیا خو ټهیک ده، نو بیا خو به ټوله فارسټ شی او کنه دغه نه وی او د آبادلو وی نو دا بل د دے صوبے په مفادو کښې نه دے۔ لهذا دوئ دِ عوام په اشتعال کښې نه راولی۔

جناب سپیکر: جناب درانی صاحب۔ زما خیال دے احمد حسن خان، چه ستاسو د پارټئ لیډر خبره اوکړی نو بیا خو -----

جناب احمد حسن خان: ملاکنډ ډویژن ته ډیره لویه خطره ده، په هغے حواله سره خبره کوم۔

جناب اکرم خان درانی: جناب سپیکر صاحب! ستاسو شکریه۔ سپیکر

صاحب! اول خبره خودا ده لکه څنګه چه محسن خان اوونیل چه منسټر صاحب دلته په دے هاؤس کښې Assurance ورکړے وو چه دا به سلیکټ کمیټئ ته خی نو پکارخو دا ده جی چه په هغه Assurance باندے دا سلیکټ کمیټئ ته لاړ شی او که لاړ نه شی نو بیا د ټول هاؤس استحقاق مجروح کیږی- نو دے ته تاسو لږ اهمیت ورکړئ- او بله خبره دا ده چه زمونږه د دے صوبے تقریباً 75 % چه کومه زمکه ده، نو هغه په دے نهرونو، د چشمے په اوبو او د فلډ په اوبو باندے سیرابه کیږی- په دے کښې زیات داسے سول کینالز دی چه هغه تر اوسه پورے د دے نه هم مستثنیٰ دی چه په هغے باندے آبیانه هم نشته دے او هغه خلق خپل محنت کوی چه کوم خائے غټ غټ نهرونه تیر شوی دی یا زمونږه د کُرم River دے نو د هغے نه چه خلق څومره فائده اغستے شی، هغوی په خپله کچه بندونه لګوی او اوبه را اوچتوی او په هغے باندے خپلے زمکے سیرابوی- ورسره جناب، بله خبره دا ده چه اوس په دے باندے به هم چه کوم کینالز دی، چه دا کوم موجوده سسټم دے او د دے نه اتهارټی جوړه شی نو بیا خو د دے اتهارټی اختیار دے چه هغه څه فیصلے کوی او په دوئ باندے څومره ریټ Fix کوی، لکه آفتاب خان خبره اوکړله چه په دے کښې ډیر واړه زمنیداران دی او خنے پکښې غټ زمنیداران دی او دا به تقریباً د یو کنیال لاندے راځی نو همیشه د وړو زمینداران سره خو پیسے نه وی نو دوئ به پیسے ورکولے نه شی نو د اوبو اختیار به د هغه چا په لاس باندے ورشی چه چا سره څومره پیسے وی او د هرے ضلعے د رواج آبپاشی خپل یو تقسیم شوے دے، د هر یو قوم، د هرے علاقے، د هر یو ویال هغه خپل تقسیم دے او په رواج کښې راغلی دی، د هغے مطابق خپلے خپلے حصے دی

نو ورسره به هغه رواج هم ختم شی اوهر سړے به دا Right کنړی، هغه به دا خپل حق کنړی چه زما په دے کښې دومره Shares وو، اوس زما په هغه Shares کښې نقصان راغلے دے نو که تاسو په موجوده وخت کښې اوګورئ او تاسو د تهانړو نه ریکارډ را اوغواړئ نو همیشه د 302 کیسونه چه څومره په دے صوبه کښې وی نو هغه تقریباً په دے ګرمئ کښې په اوبو باندے وی او اوس دا خدشه ده چه کله دا Authority جوړه شی نو دا به ورسره نور هم زیات شی۔ د امن وآمان مسئله به خرابه شی او ورسره به په دے صوبه کښې داسے افراتفری شی چه اوس خلق، لکه مخکښې ایګریکلچر ټیکسونه لګیدلی دی، هغے ته هم نه دی تیار نو د پاسه پرے نور څه راغلی دی۔ نو زمونږه دا Request دے چه په دے باندے دِ غور اوکړے شی او دلته کښې چه زمونږه کوم ورونړه ناست دی، هغوی به هم په دے باندے څه وئیل غواړی او په تیر شوی ګورنمنټ باندے به هم حقیقت دا دے چه څه پریشر وو خو هغوی به هم دے ته غاړه ایښودے نه وی چه هغوی دا څیز تسلیم کړی۔ نو زمونږه دا ګزارش دے چه دا د ټولے صوبے د تباهئ او د اصلاح د پاره یو اهم خبره ده، زمونږه Request دا دے چه دا د Select Committee ته لاړ شی او دلته کښې د هرے یوے پارټئ تقریباً نمائندګی ده او هغوی ته دِ برابره حصه پکښې ورکړے شی۔

جناب سپیکر: جناب حاجی صاحب۔

حاجی محمد یوسف خان: جناب سپیکر! زه به وخت زیات نه اخلم -----

جناب سپیکر: وخت تاسو ټول ډیر لږ اخلئ خکه چه ټائم ختمیږی۔

حاجی محمد یوسف خان: زما خو ستاسو په وساطت باندے دے ګورنمنټ ته دا

گزارش دے چه هر یو قانون سازی کیږی نو پکاردا ده چه هغے له ټانم ورکړی او په هغے باندے سوچ اوکړی ځکه چه قانون سازی د یو ټانم یا د یو پارټئ، د یو وخت د پاره نه وی۔ تر څو پورے چه د دے Bill سوال دے نو د دے نه مخکښ خو مونږ دا څیز لیدلو، دا شے مو اوریدو چه کوم نهرونه د ایریګیشن ډیپارټمنټ په تحویل کښ وو، هغه هغوی ویستلی وو یا به ئے د هغے Maintenance کوؤ یا په هغے باندے خرچ اخراجات به ئے کول، د هغے Supervision به ئے کولو او په هغے باندے به حکومت آبیانه لګوله لیکن د دے Bill په رو باندے مونږه چه څه واؤریدل او څه اولیدل، نو په دے کښ هغه نهرونه، چشمے یا کوهی، ټول راغلل چه کوم په دے صوبے کښ دی مثلاً زه به د هزارے ډویژن خبره اوکړم۔ په هزاره ډویژن کښ % 20 یا د % 15 خلقو تعلق د خنګل سره دے او % 80 یا % 85 خلقو تعلق د زراعت سره دے۔ په هزاره کښ ماسوائے د هری پورنه، نورنه څه کارخانه شته، نه څه روزګار یا څه ذریعه شته۔ د خلقو ټوله ذریعه زراعت دے او دویم نمبر جنګلات دی۔ په جنګلاتو باندے حکومت پابندی لګولے ده او په زراعت کښ زمونږ آبا و اجداد په ' اپنی مدد آپ ' باندے غټ او واړه نهرونه ویستلی دی او پخیله ئے Maintenance کوی او د هغے حفاظت کوی۔ واړه واړه زمیندار دی او د هغے نه خپله هغه معمولی ګزاره کوی۔ نن دا Bill چه پیش شو نو د دے نه هغه خلق ټول متاثره کیږی او د دے نتیجه به دا وی لکه څنګه چه زمونږ وزیر اعظم صاحب ونیلی دی، تاسو ئے واینئ، هر څوک وائی چه دا زرعی ملک دے او مونږ باوجود د زرعی ملک غله د بهر نه غواړو۔ نو د هغے وجه دا ده چه یو حکومت تر ننه پورے زمیندار ته هغه مراعات نه دی ورکړی چه کوم

ورله ورکول پکار دی۔ نن که تاسو دا Bill اوګورئ، د دے نه مخکښ په زمیندارو باندے لوکل ریټ دے، زرعی ټیکس پرے بل راغے، د هغے نه علاوه کهاد ګران شو او نتیجه دا ده چه خلقو په خپلو زمکو کښ کاشت پریښودلو۔ زما چه تر څو پورے خیال دے، د دے Bill په وجه باندے، زه خو د هزارے ډویژن په لیول خبره کوم چه دا خبره به بالکل دے ته جوړه شی چه خلق به خپلے زمکے شارے کړی ځکه چه مونږ د دے ټیکس ورکولو طاقت نه لرو۔ نو زما به ستاسو په وساطت باندے دا درخواست وی چه دوئ د مهربانی اوکړی او کمیټی دِ کښینوی او په هغے کښ دِ دَ هر ډویژن ممبران کښینوی او داسے Bill د پیش کړی چه هغه د نقصان په ځائے فائده اوکړی چه په دے کښ حکومت ته هم فائده ملاؤ شی او زمیندارو او خاصکر غریبو کاشتکارو ته نقصان اُو نه شی۔

Mr. Speaker: Thank you.

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر۔

Mr. Speaker: Ahmad Hasan Khan, please.

جناب احمد حسن خان: پینځه منټه، سر، پینځه منټه۔ جناب سپیکر! په کومه ورځ چه دا Bill راغلے وو، د بدقسمتئ نه په هغے ټائم کښ زه حاضر نه ووم۔ زما په خیال چه دا As additional agenda item راغلے وو، په دے وجه باندے رشتیا خبره دا ده چه ما ته په هغه وخت کښ دا پته اُو نه لګیده۔ په دے باندے هم زما د خپل ذاتی رائے مطابق دا اعتراض دے چه کله حکومت سره دومره دغه دے او ستاسو کارکردګی د الله په فضل سره انتهائی ټهیک ټهاک روانه ده او حکومت ته دا مواقع ملاؤیدے شی چه یوه خبره د په ټهیک طریقه باندے

راشی، میندیټ هم ورسره دے، په داسے صورتحال کښې دا د Additional Agenda په شکل کښې راتلل، دا د ممبرانو په حقوقو باندے د ډاکے یا د حملے کولو مترادف دے جناب سپیکر۔ زما دا سو فیصد یقین دے جناب سپیکر، چه زراعت سره تعلق لرونکی % 99 دوستان که د هغوی تعلق اپوزیشن سره دے یا که Treasury benches سره تعلق لری، هغوی بالکل په دے باندے نه پوهیږی چه په دے کښې صورتحال څه دے؟ جناب سپیکر! زه صرف دا عرض کومه چه فیډرل گورنمنټ دومره حده پورے ناپوهه نه دے چه هغه په دے اسمبلئ باندے د خپلو مفاداتو د پاره Legislation کوی او هغه به دا وائی لکه څنگه چه تاسو اوفرمائیل چه As directed by the Federal Government, خو هغوی ئے په خفیه طریقو باندے کوی چه په هغے کښې یوه طریقه دا ده جناب سپیکر۔ دا اوس تاسو ته پته نه ده چه د بعضے اعلیٰ شخصیاتو د ذاتی فائدو د پاره په ټول ملک کښې یو طریقه کار رائج کیږی او چه کوم طریقه کار د صوبه سرحد د پاره جان لیوا دے، په صوبه سرحد او په بلوچستان غوندے صوبه باندے هم لاگو کیږی۔ جناب سپیکر! په بلوچستان اسمبلئ کښې پرون د اپوزیشن ممبرانو په دے باندے واک آوټ کړے دے او دا ئے ونیلی دی چه 7 July will be written as black day in the history. دا زه هم وایم جناب سپیکر، دا ټهیک ده، د آئینی او قانونی حوالو سره زه ستاسو نه دا تپوس نه کوم خو زه دا وایم چه په هغه خفیه طریقو باندے، په هغه خفیه ذرائع باندے او په هغے خفیه لارو باندے صوبائی حکومتونه په دے باندے مجبوره کیږی چه هغوی داسے قانون سازی اوکړی چه دوئ پکښې مجبوره شی۔ جناب سپیکر! زه صفا خبره مختصر د پښتو په لفظونو کښې کوم۔ هغه دا ده چه زمونږه اکثریتی طریقه کار

د آبپاشۍ رواجی دے۔ تاسو د هزاره ډویژن خبره کوئ، مالاکنډ ډویژن او هزاره ډویژن کښې هغه علاقے چه پاتا دی، باره کښې On the floor of the House د جناب منسټر صاحب نه دلته پالیسی سټیټمنټ اوریدل غواړم چه دا به ملاکنډ ډویژن ته نه Extend کیږی۔ جناب سپیکر! ټهیک ده ما سره خو غم دے د مردان د ورونړو، ما سره خو غم دے د صوابئ د ورونړو او ما سره خو د ټولے صوبے د حقوقو غم دے خو چه کله بیا دا غم لاندے په لاندے خی نو تاسو ته پته ده چه بیا د کلی غم سړے کوی، دغسے بیا د کورغم کوی او په آخر کښې د خپل سر د غم کوشش کوی۔ جناب سپیکر صاحب! زه دا وایم چه نن مالاکنډ ډویژن د ریونیو په بنیاد د هم د ټیکس، د آبیانے ورکولو هلته کښې څه پروګرام نشته نو په دے صورتحال کښې به د هغوی څه پوزیشن جوړیږی؟ زما ورور، بشیر خان چه ډیر مهربانه منسټر دے، به ما له دا پالیسی سټیټمنټ راکوی کنه۔ جناب سپیکر! نن په دے حکومت کښې پنځلس، شپاړس ممبران د حکومت، د دواړو الائنس پارټیز، دے پارټئ له یو مینډیټ ورکړے دے او هغه ممبران دلته حکومت سپورټ کوی۔ جناب سپیکر! دا یو ټیکنیکل بِل دے او زه چه په هغه ورځ راغلم نو هم ما د محسن خان نه دا تپوس اوکړو چه په دے بل کښې به مونږ Amendments ورکوؤ؟ او محسن خان دا خبره اوکړه چه د جناب منسټر صاحب د Assurance په ذریعه باندے به دا کمیټئ ته خی او مونږ به بیا په کمیټئ کښې کښینو او خپل خدشات به وړاندے کړو۔ په دے کښې به مونږ په کوم یو باندے Amendment ورکوؤ؟ په دے کښې خو د شروع نه واخله تر آخره پورے Amendments ورکول پکار دئ۔ جناب سپیکر! د صوبه سرحد نظام آبپاشی د سندھ او د بلوچستان نه بالکل

مختلف دے۔ زما سره د په دے یو پوائنټ باندے جناب منسټر صاحب Agree شی چه او، د صوبه سرحد او په هغے کښ فرق نشته دے۔ مونږ له فیډرل گورنمنټ ولے Priorities fix کوی؟ او چه فیډرل گورنمنټ د کومو شخصیاتو په بنیاد باندے د هغوی د خواهشاتو احترام کوی او ایگریمنټ کوی نو جناب سپیکر، زما صوبه د هغے نه ولے متاثره کوی؟ زه تاسو ته دلته دا وایم لکه دلته کښ د بارے د نهر خبره ده، ما دا هم اوریدلی دی چه دغه شان په ډیره اسماعیل خان کښ پنچکوټ دے یا بل څه نهر دے، هلته کښ روایتی سسټم دے او تحصیلدار، ریونیو آفیسر دے، هغه آبیانه دغه کوی۔ هلته کښ جناب سپیکر، دا طریقه کار نشته دے کومه طریقه چه د حکومت د مخکښ نه ده۔ زمونږ سسټم ټول رواجی دے او زمونږ سسټم ټول قبائلی دے۔ زمونږ د پاره دا تباه کن دے او دا په دغے طریقه باندے د صوبائی د حقوقو اغستو یو کوشش دے۔ لهذا زما ستاسو په وساطت جناب منسټر صاحب ته دا درخواست دے چه دا دِ کمیټئ ته ریفر شی چه هلته مونږه کښینو چه زمونږ په علم کښ دی، په څه مونږ پوهیږو، هغه مونږ د دوئ په خدمت کښ عرض کړو او د دے نه مونږ ته څه فائده ده، هغوی دوئ مونږ ته اووائی نو که مونږ ته ترینه فائده وی جناب سپیکر، نو مونږ د دے صوبے حقوق غواړو، مونږ د دے صوبے فائده غواړو، انشاء الله تعالیٰ مونږ به ورسره Agree شو۔ زما دا درخواست دے چه هغه په دے باندے غور اوکړی۔

Mr. Speaker: Thank you.

جناب نجم الدین: جناب سپیکر! ډیره مهربانی۔ لیډر آف دی اپوزیشن -----

جناب سپیکر: نجم الدین خان! تاسو خو خبره کړے ده کنه۔

جناب نجم الدین: سر! لیدر آف دی اپوزیشن خبره کړے ده او زمونږ د هغے سره اتفاق دے۔ مونږ له د خبرو پټانم لږ ډیر خکه راکړئ، سر -----

جناب سپیکر: ډیر پټانم نشته، دوه درے منټه خبرے اوکړئ۔

جناب نجم الدین: سر! زما یو درخواست دے۔ په دے بِل کښ داسے څه خبره نشته چه حزب اقتدار والا ئے ښه بیان کړی۔ د فلور کراسنګ په وجه دوئ خاموش دی او خبرے به صرف مونږ کوؤ، دوئ خبرے نه شی کولے۔ نو مونږ له خو د خبرو اختیار راکړئ چه د دے بِل متعلق خبره اوکړو۔ زه دا وایم چه دا نیشنل ډرینج سکیم چه کوم دے جناب، د دے نه که نوره علاقه متاثره کیږی او که نه متاثره کیږی خو مالاکنډ ډویژن او هزاره ډویژن د دے نه زیات متاثره کیږی۔ مونږ دا وایو چه کومه علاقه کښ واوره کیږی، هغه ټوله غرنیزه علاقه ده او هر کال، کله چه نهر خراب شی نو په نغاره باندے هغه خلق را اوخی او دغه نهرونه جوړوی۔ نهر مونږ پخپله جوړوؤ او هلته د اوبو مونږ پخپله Supervision کوؤ، پخپله باندے د هغے انتظام کوؤ۔ دوئ دا خبره راویستلے ده چه په دغے باندے به مونږ ستاسو نه آبیانه اخلو او بیا د آبیانے سره سره هر کال به 25 % په هغے باندے ټیکسونه هم زیاتوؤ۔ سر! په مونږ ایګریکلچرل ټیکس اولګیدو، نور ټیکسونه اولګیدل، زمونږ خو خپل دا خیال وو چه دا د مینډیټ حکومت راغلے دے، کم از کم په مونږ باندے به ټیکسونه کم شی۔ خو بل طرف ته چه ګورو نو زرعی ټیکس په زمیندارو باندے خکه چه دا د صنعتکارو حکومت دے۔ صنعتکارو له، ګورئ جی کله وائی چه مونږ د کسټم ډیوټی ورته کمه کړه، کله وائی په فلانکئ کارخانے باندے کموؤ۔ زه دے زمیندارو ورونړو ته وایم، دوئ ته زما دا درخواست

دے چه ته پخپله باندے دا اندازه واخله، زرعی ټیکس درباندے نوے اولګیدو، ورسره دا آبیانه درباندے ده او د هغے سره سره په هغے خایونو باندے هم ټیکس اولګیدو چه په کوم خائے کښې ما پخپله اوګه باندے واړره ویلے شوه او هغے ته ځان له نهر جوړ کړم خپل پټی له او په هغے باندے هم دوئ په مونږ باندے ټیکس لګوی۔ نو دا خو خدائے خبر دے چه دلته دوئ د غنمو خبره کوی او بیا به چرته یو درئ غنم نه، چه د سره هغه ایګریکلچر به خلق بند کړی سر۔ زما دا درخواست دے چه دا د کمیټئ ته حواله کړے شی او په دے باندے دِ دَ زمینداروِ نه هم تپوس اوکړے شی۔ د ایم پی ایز نه دِ هم تپوس اوکړے شی او ورسره د په هغه علاقه کښې د خلقو نه تپوس اوشی۔ ګنی نو زه یوه خبره برملا وایم د مالاکنډ ډویژن ایم پی ایز ته او د هزارے ډویژن ایم پی ایز ته که په دے قوم باندے مو کوم ټیکس اولګوؤ، ټهیک ده مونږ ته پته ده چه ستاسو ځُلے بندے دی، تاسو څه نه شئ کولے، تاسو به زمه وار یئ، قوم ته به مخامخ کیږئ او قوم له به جواب ورکوئ خکه چه دا ټیکس لګول، دا دے قوم سره زیاتے او ظلم دے۔

<u>نوابزادہ محسن علی خان</u>: جناب سپیکر صاحب! میں نے تو صرف Assurance کی بات کی ہے۔ I have not talked on this Bill at all. جیسے آپ نے کہا تھا کہ He will ----- give a rply,

<u>Mr. Speaker</u>: Yes, he will give the reply.

<u>Nawabzada Mohsin Ali Khan</u>: On the assurance, then let me just point out Sir, the anomalies in this Bill.

<u>Mr. Speaker</u>: Only two minutes, be brief please.

<u>نوابزادہ محسن علی خان</u>: جناب سپیکر صاحب! نمبر ایک' Sir, can I draw your attention? Sir, there are direct anomalies in this Bill which are going to create confusions.

یہاں پر جی ہاؤس کو اور پارلیمانی پارٹی میٹنگ کو یہ بتایا گیا ہے کہ سول کینالز اور کٹھہ جات پہ یہ لاگو نہیں کیا گیا ہے - This is what I have been told unofficially by some friends. -----

<u>Mr. Speaker</u>: Sir, you have got friend in every nook and corner.

<u>Nawabzada Mohsin Ali Khan</u>: One is you right on top.

If you look Sir, at page 2, where Sir, it is سر! میں گزارش یہ کروں گا 'DEFINITIONS', (n), Sir, these are serious anomalies which should create serious legal problems later on. بی بی، دا لرِ اوگورئ کنه جی-

Sir, it says that "water" means any water, standing or flowing on surface or sub-surface within the territory of the Province except such water in the inter-provincial reservoirs and/or rivers and canals within the Province as is allocated to any other Province or Provinces under the Water Apportionment Accord (1991).

They' جو حکومت نے اس کے تحت کیا ہے Now Sir, what they have done? Surface water and sub surface water' ہے جو پانی سارا have taken According to the 1991 Water Apportionment کہ including the water Accord جو کچھ کیا گیا ہے' اس کو بھی انہوں نے اس میں Include کیا ہے- جب جناب سپیکر صاحب' یہ سارا پانی لے لیتے ہیں Within their control, within the

control of this Authority اور پھر اگر جی آپ یہ Page 7 دیکھیں، جو پارلیمانی پارٹی میٹنگ میں ان کو بتایا گیا، وہ صحیح بتایا گیا ہے But the actual fact, it is incorrect -----

حاجی عبدالرحمان خان: جناب سپیکر صاحب! یو تپوس درنه کوؤ۔ دے په مونږ کښې نفاق پیدا کوی۔ تا ته چا وئیلی دی؟ د خان نه خبرے مه کوه۔ ستا حواله ټول عمر غلطه وی۔ ته گورے کتاب ته او حواله وائے دروغ۔ معافی غواړم خو خبره دا ده، داسے خبره مه کوه۔ د پارلیمانی پارټی میټنگ کښې چه کومه خبره اوشی، بغیر د لیډر د اجازت نه بهر څوک نه کوی۔ نو تاسو ته زه یو درخواست کوم چه ته داسے غیر ذمه وارانه خبره بیا مه کوه۔

نوابزاده محسن علی خان: گوره جی، دا خو غیر ذمه وارانه نه ده، دا خو ذمه وار ستیټمنټ -----

جناب احمد حسن خان: پته اولګیده چه خبره رشتیا ده۔

Nawabzada Mohsin Ali Khan: Sir, I like to draw your attention to page 7, where it says, 'OPERATIONS', sub clause (1), "to operate and maintain the irrigation, drainage, storage reservoirs and flood control infrastructure in the Province including hill torrent",

یعنی جناب سپیکر، یہ ڈی آئی خان میں جو رود کوہی سسٹم ہے، یہ سارا 'Hill torrent' ہے،

"Including hill torrent control and development works for irrigation of adjoining lands including watershed management practices in catchment areas, but not including civil canals and private kathajat.

تو جناب سپیکر صاحب، اگر آپ نے 'Civil canal and kathajat' کو اس میں سے

Exclude کر دیا' آپ نے اتھارٹی بنا لی' Sub-surface water, surface water سارا
آپ نے اتھارٹی کو دے دیا According to this law یعنی جو بِل اس وقت آپ نے
Take up کیا ہے ' According to this Speaker Sahib, who maintains
these because the Provincial Irrigation Department has become an
Authority. They are saying کہ جناب' ہم یہ سارا کچھ لیں گے سوائے سول کینالز
اور کٹھہ جات' پانی جو ہے' انہوں نے سارا Take over کر دیا' Sub -surface water
پانی ان کو کون دے and surface water and aportionment water of 1991.
Who will provide the water, who will maintain these canals گا جی ؟
جناب سپیکر صاحب ' andwho will maintain these Kathajat? It is not clear.
The
Minister should note it down, he should explain it. According to
the law which he has introduced, he has excluded civil canals and
kathajat after the operations of this authority, while including all
Hilly وہ چاہے ہے' Surface وہ چاہے ہے' یعنی جتنا پانی اس صوبے میں ہے the water
According to کا ہے Reservoir وہ چاہے ہے' Sub-surface وہ چاہے ہے'
Take over وہ سارا وہ 1991 Accord, کر رہے ہیں۔ تو پھر پانی ان کو کون دے گا؟
جناب دوسری چیز یہ ہے The water can only be given by the, one minute,
If you go to page 10 of the Bill, and this is clause سپیکر! اگر آپ دیکھیں'
(4), "to formulate and implement policies with view to ensuring that
the Authority and other entities under this Act become fully
operative as self supporting", the words are very important Sir, "as

self supporting and financially self sustaining" -----

Mr. Speaker: Mohsin, please cut it short because I am not applying the rules. Otherwise, legally you can not discuss clauses of the Bill.

نوابزادہ محسن علی خان: اچھا، جناب سپیکر صاحب! This is the most important clause, "self sustaining entities as regards operation and maintenance (hereinafter referred to as 'O&M') cost of irrigation and drainage as specified in section 22 within a period of seven years to ten years". They want to recover the entire cost of this.

جناب سپیکر! ایک طرف تو حکومت پاکستان نے ورلڈ بینک کے ساتھ Agreement کیا تھا In the power sector and the Prime Minister of Pakistan, the day he took over government, اس دفعہ جب انہوں نے حکومت لی تو He said I will not, and I will repeat it, I will not increase power rates whatever the agreement may be, and in the budget they very clearly announced that they will not increase the power rates and the government of Pakistan has not increased the power rate, they have not gone along with the agreement signed with the World Bank. یہاں پر جناب سپیکر صاحب، یہ کہا جا رہا ہے کہ چونکہ ہم نے Agreement پر دستخط کر لیا ہے، لہذا ہم مجبور ہیں۔ کس چیز کی مجبوری ہے جناب سپیکر صاحب؟

Mr. Speaker: Thank you very much.

حاجی عبدالرحمان خان: جناب سپیکر صاحب! زہ پہ دے بارہ کښی یوہ خبرہ دوہ

او ډیر نن خوشحاله هم یم- رښتیا خبره دا ده، خوشحاله په دے یم چه دا خلق دی چه دوئ به د مضبوط مرکز خبرے کولے- (تالیاں) او چه ږه به د صوبے خبره کوله نو زمونږه خانے جیل وو- د دوئ د لاسه به ږه په جیل کښ پراته وو- دوئ به ونیل چه دا د پاکستان دشمنان دی- نن زه ایم چه تاسو هغه د مضبوط مرکز خاوندان یئ، ولے د صوبے خبره ئ، ولے مو پاکستان هیر کړو، ولے د پاکستان خبره نه کوئ؟ -----

ب نجم الدین: سر! دا مسلم لیګ ته وائی که مونږه ته وائی؟

ں عبدالرحمان خان: دا تاسو ټولو ته وایم- دا ټول اقتدار کښ راغلی دی، ف مونږه یو، صرف مونږه یو چه د دے صوبے د پاره او د دے وطن د پاره اوس د دے پاکستان د پاره قربانئ ته تیار یو او دا مونږه یو، نن مونږه دا فخر ؤ په خپل باچا خان باندے، دا نے ونیل چه دا هغه خلق دی چه دوئ به سبا له و نه وړاندے د صوبے آواز کوی، نن مو وهی سبا به وړاندے آواز کوی- نږ چه نن څه کوؤ، ټهیک ده مونږه نے منو، مونږه خبرے هم اوکړے، نږ د پاکستان د پاره نے کوؤ، بیا به هم کوؤ او بیا به هم کوؤ، قربانی به رکوؤ- مونږه د پاکستان خلق، ورونږه ګنړو او د هغوی د پاره به قربانی رکوؤ او تاسو ښه ده چه د پاکستان خلق دشمنان ګنړئ نو هم په دے باندے ښه ښکارئ-

Mr. Speaker: The honourable Minister, please.

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب ! دوئ د صوبائی حقوق خبره پریښوده، مونږ خکه په هغے باندے زور اوس اچوؤ-

Mr. Speaker : The honourable Minister, please.

وزیر آبپاشی و آبنوشی: جناب سپیکر صاحب ! ډیره مهربانی، ډیره شکریه- د ټولو نه مخکښ زه د آفتاب خان، همایون خان، پیر محمد خان، د درانی صاحب، د یوسف ترند صاحب، احمد حسن صاحب، نجم الدین صاحب او محسن علی خان صاحب ډیر زیات مشکور یم- دوئ ډیرے ښے خبرے اوکړلے او حاجی صاحب هم خبرے اوکړلے- زه تسلی ورکوم دے هاؤس له او ستاسو په وساطت دے ټولے صوبے ته چه د خدائے پاک په فضل سره زمونږ د سیاست بنیاد صوبائی خود مختاری ده او مونږه اوس هم د خپلے صوبے په اختیارات باندے هر وخت هر قسم جهګړو د پاره او د خپلو حقوقو د پاره هر وخت Stands اخلو او په دے کښ هم داسے هیڅ مجبوری نشته چه محسن صاحب اوونیل چه دا مجبوری ده چه دوئ دا پاس کوی- هیڅ مجبوری نشته او مونږه دا ګنړو چه د PIDA بل چه دے، دا په دے وخت کښ د دے صوبے د پاره ډیر ضرورت دے- سپیکر صاحب! زمونږ ورونړو ډیر زیات اعتراضات اوکړل چه دا اوبه چه دی، محسن صاحب دا اوونیل چه Water expalantion چه دے نو هغه دا دے چه ټول Water چه دی، Whether all sort of water will be given to the PIDA? مطلب دا دے چه د Irrigation هر څه ټول سسټم چه دے نو هغه به PIDA ته حواله شی، Irrigation Department will be PIDA Authority او دے بیا خپله وائی چه دا کوم 'Operations' کښ دوئ وائی دا But not inculding civil canals and pravite Kathas, ، دا On the floor of the House زه Categorically وایم چه Canals and pravite Kathas به As previously څنګه چه خلقو مخکښ Maintain کولو، بیا به هم Maintain کوی- ډیسکونه خو اوډبوئ کنه ظالمانو- (تالیاں) زه

Categorically دا خبره کوم -----

نوابزاده محسن علی خان: جناب سپیکر صاحب! هغه ټول پوهه دی چه آنریبل سپیکر صاحب وائی -----

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر صاحب ! دوئ براه راست هغوی ته نه شی وئیلے چه اوډبوئ، ستاسو په وساطت به درخواست کوی۔

جناب سپیکر: زه به ورته دا نه وایم چه اوډبوئ۔

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر صاحب! دا مونږ ته پته ده۔

وزیر آبپاشی و آبنوشی: سپیکر صاحب! زه Categorically دا خبره کومه چه kathas او دا ویال چه دی دا به څنګه مخکښ خلقو Maintian کولو، هغه شانتے اوس هم کوی -----

جناب سپیکر: دا 'Categoratic' لفظ دِ یاد ساته، ګورے دوئ په هر څیز باندے راپاسی، هسے نه چه په دے باندے هم Privilege motion راوړی۔

وزیر آبپاشی و آبنوشی: او بل سپیکر صاحب، زه د Modern Tehcnology په حواله زه یوه خبره اوکړم چه In modern world, there is no Irrigation system with out proper drainage system. For proper and smooth irrigation system, the drainage system is required first. دا Statement د دنیا هغه لوئے دغه چه کوم دی نو هغوی دا ورکړے دے دا ډرینج سسټم مونږ د پاره ډیر ضروری دے۔ زما ورونړو خو ډیر زیات دغه اوکړو چه O&M به ډیر زیا ت شی او په زمیندار باندے به ډیره زیاته آبیانه اولګی۔ زه دوئ ته دا تسلی ورکوم لکه څنګه چه دوئ پخپله وائی چه په ایریګیشن سسټم کښ ډیر زیات کرپشن دے، پیسے خلق خوری او نهرونه نه صفا کیږی، مونږه په دے

کښې داسے کړی دی چه د ډیپارټمنټ سره سره خلق هم پکښې Involve کړل چه هغه ایریا واټر بورډ په حیثیت، فارمر آرګنایزیشن په حیثیت دوئ به په هره یوه علاقه کښې د خلقو مخامخ، کار به هم دغه د حکومت خلق کوی او With their co-operation ، د دوئ په Understanding سره چه چرته دوئ غلا اُو نه کړی، نو دا چیک چه دے، دا ایریا واټر بورډ به ساتی او دا فارمر آرګنائزیشن به ئے ساتی- سپیکر صاحب! بله خبره دوی د O&M اوکړه چه دا دومره خلق به لفټ ایریګیشن څنګه Afford کوی، بجلئ بِل به زیات شی، خلق به څنګه دا پیسے ورکوی؟ د بِل دا خبره ده چه دا لفټ ایریګیشن چه دے، د هغے بیا هم حکومت ټول Payment کوی او حکومت به هغه کنټرول هم کوی، صرف هغه اوبه، چه کومے Gravity اوبه دی، حکومت به دا کوشش کوی چه Seven to ten years کښې داسے حالات پیدا شی چه هغوی پخپله Maintain کولے شی او په Gravity باندے دومره پیسے خرچ نه راځی- اصل خبره لفټ ایریګیشن ده، لفټ ایریګیشن به د حکومت ذمه واری وی- دوئ وائی چه مونږ ته د دے هیڅ فائده نه رسی، سپیکر صاحب! Already زمونږ په دے صوبه کښې 2290 کلومیټر Drainage شته خو چوک دے او هغه دومره خراب دی چه په هغے باندے کار نه کیږی- دا کوم کوم علاقو کښې دی؟ د Malakand 39 drains پچانوے کلومیټر دی- د بنوں ډرینج سسټم چه کوم 36 Drains دی، هغه 162 کلومیټر دی- ډی آئی خان ډرینج سسټم کښې 13 Drains دی او هغه 83 کلومیټر دی - Peshawar valley drainage system inculding Kafoor Dheri, دا 460 drains دی او 880 کلومیټر دا علاقه ده- Tanda Dam Command area drainage system, دا 26 دی او 27 کلومیټر د دے لمبائی ده-

صوابی درینج سسټم کښې drains 448 دی، د دے 567 کلومیټر لمبائی ده۔ بیا مردان درینج سسټم دے، دے کښې دوه سوه Drains دی چه 476 کلومیټر د هغے لمبائی ده او دا Drains دی چه دا PIDA به مونږ د پاره دومره فائده کوی۔ بیا د دوئ دا لږه خدشه ده چه مونږ ته نوے پکښې څه نه ملاؤیږی۔ نوے کار به دے کښې څه کوؤ؟ دوآبه داؤدزئی سکارپ نیو پراجیکټ به وی، کافور ډهیری سکارپ ټو به وی پکښې، پشاور سکارپ پبی ایریا به وی، بنوں سکارپ ټو او چشمه کمانڈ ایریا سی آر بی سی به هم وی۔ سپیکر صاحب! دے کښې دا هم تاسو ته عرض اوکړم چه دے کښې داسے څه خبره نه ده چه دا یو پراجیکټ دے، It is not a Project, it is a Programme. دا مونږ ته اجازت دے چه هر خائے کښې مونږ ته په دے درینج سسټم کښې خرابی ښکاری نو مونږه په ټوله صوبه کښې کولے شو۔ دا نو مونه چه ما واغستل، د دے پورے مونږ Confine نه یو، It is not a project, it is a programme and we will extend it to the whole Province.

نوابزاده محسن علی خان، جناب سپیکر صاحب! دوئ کافور ډهیری باره کښې څه اوونیل؟

وزیر آبپاشی و آبنوشی، جناب سپیکر صاحب! د دوئ په خبرو مونږه کله داسے نه دی کړی نو دوئ له هم پکار دی چه -----

نوابزاده محسن علی خان، دوباره دِ لږ شانتے Repeat کړی، عبدالرحمان لږ اوده وو۔

حاجی عبدالرحمان خان، ما هم اوریدل چه ستا دغه نے هم پکښې یاد کړو۔ تاسو پټ پټ چیف منسټر صاحب سره دننه خبره هم کوله۔

وزیر آبپاشی و آبنوشی: سپیکر صاحب! تاسو ته هم پته ده دا په Tail کښې چه کوم خلق دی، هغوی ته اوبه پوره نه ملاؤیږی- دے سټم سره به Coordination په خپلو کښې کیږی نو دا اوبه به انشاء اللہ په دے سټم باندے رسی- (تالیاں)

بَل جی د آبیانے باره کښې دوئ د ډیرو خدشاتو اظهار اوکړو چه ډیر زیاتے پیسے به لږی، نو آبیانه به هغه وخت زیاتیږی چه کوم وخت ډیپارټمنټ کار اوکړی او که غلط کار اوکړی او رشوتونه اوخوری، په هغے کښې به زمنیداران ناست وی، د دوئ په Cooperation باندے به کارکیږی- نو دوئ به کوشش کوی چه خپل اخراجات به کم کړی نو چه اخراجات کم کړی نو Automatically آبیانه به هم کمه شی- دا د دوئ هسے خدشات دی چه دا آبیانه به زیاتیږی- دا به ولے زیاتیږی چه تاسو پخپله ناست یئ، رشوت پکښې نه وی، کمیشن پکښې نه وی او کارصیح طریقے سره کیږی نو بیا به څنګه خلق آبیانه زیاتوی؟

نوابزاده محسن علی خان: Let the Minister give categoric assurance on the floor of this House چه دا آبیانه به نه زیاتیږی-

وزیر آبپاشی و آبنوشی: سپیکر صاحب! د دوئ خبرو کښې مونږه پوائنټ آف آرډر یا خبره نه ده کړے- زه Categorically دا خبره کوم چه کوم وخت زمنیداران Collectively اخراجات کم کړی نو Automatically نه زیاتیږی، اخراجات به زیاتیږی نو هغه هم هغه پوره کوی That is an Authority, that is not a private داسے هغه خو نه دے، بل زمونږه ورونړو دا چه کومه خبره اوکړله چه دا Assurance باره کښې سپیکر صاحب، تاسو ته عرض اوکړم -----

جناب سپیکر: یولے خبرے مکملے کړه کنه نو بیا هغے ته راخه۔ دوئ خو Disturb کوی هسے -----

وزیر آبپاشی و آبنوشی: زه جی دا تاسو ته عرض کوم چه زمونږ د پاره چه کوم PIDA ده، 'Provinical Irrigation Drainage Authority' په دے کښې زمونږ ورونړو اوونیل چه مرکز کے اختیارات سے صوبائی حقوق ختم ہوگئے ہیں، نو په دے حیران یو چه دا اسمبلی، صوبائی اسمبلی ده، دا بل دوئ ته پیش شوے دے---

ہمایوں سیف اللہ خان: سر! دا Drainage authority نه ده -----

وزیر آبپاشی و آبنوشی: ده څه اوونیل؟

جناب ہمایون سیف اللہ خان: تاسو اوونیل چه 'Drainage Authority' ده، دا Drainage Authority نه ده۔

وزیر آبپاشی و آبنوشی: ما دا نه دی ونیلی، ما Provincial Irrigation and Drainage Authority' ونیلی دی۔ تا اوریدلی غلط دی او زه دا عرض کومه جی چه دا 'Provincial Authority' ده او دا صوبائی اسمبلی ئے پاس کوی۔ دا صوبائی حکومت به ئے پاس کوی نو په دے کښې د مرکز هیڅ مداخلت نشته او مونږه دا کنړو چه دا Authority ده۔ دوئ دا وائی چه دا تیس یا بتیس کروړ روپے به مونږ ته ملاؤیږی، په دے کښې به مونږ ته تین ارب، چالیس کروړ روپے ملاؤیږی، It is a big amount. او بل دا چه زما دے ورونړو خبرو کښې اوونیل، دا Surface water مونږ ته ډیر ضروری دے او Surface ډیر ضروری دے، زه دا ورته وایم او تسلی ورکوم چه تاسو دا اوکورئ پنجاب، سندھ او پرون بلوچستان هم دا پاس کړو۔ په دے باندے بی بی، مخکښې تاسو ته به یاد وی چه مونږه دا تیبل کړو نو مونږ دا پخپله واپس کړے وو په دے وجه

چه زمونږ څخه Reservations وو۔ د ټولو نه پهلا ریزرویشن دا وو چه مونږ د Surface د پاره پیسے پکار وے، هغوی مونږ سره Commitment اوکړو چه Next stage کښې به مونږ Surface water د پاره پیسے ورکوو۔ سپیکر صاحب! بله دا خدشه وه چه لفټ ایریګیشن کښې به ډیر زیات O&M لګی نو د کښې مونږ خلق زمینداران ته دومره پیسے نه شو ورکولے۔ مرکزی حکومت دا مونږ ته تسلی راکړه، دا ئے مونږ ته Categorically ونیلے دی، د آرډیننس کښې هم راغلی دی، بل کښې هم راغلو چه هغوی وائی چه ایریګیشن کښې کوم لفټ به وی، هغه به حکومت With co-operation کوی۔ باقی چه د دوئ خدشات دی چه زمیندارو کښې به اوبه یو کس واخلی، نو آیا د واپ اتهارټی دا بجلی خوک یو کس اغستے شی؟ حالانکه ډیر لوئے مالدار دی، هغه ټوله بجلی اغستے شی؟ دا خو داسے خبرے اوشوے چه سړے وائی چه بالکل ___ دا حکومت دے، دا اتهارټی ده، د حکومت ټول سیکرټریان پکښې ناست دی او بیا دا خدشه ښکاره شوه چه ټول به سیکرټریان فیصله کوی۔ he chairman will be political person, farmers as well, be there. سیکرټریان به ورسره خا مخا وی او بیا Implementation چه دے، هغه به د ایریا بورډ خا کوی او بیا Farmers به کوی۔ نو په دے زه دا خواست کوم چه په دے Lengthy بحث هم اوشو او تاسو ته خواست کوم چه دا آل دِ پاس کړے شی۔ ډیره مهربانی، سپیکر صاحب۔

<u>جناب سپیکر</u>: د دوئ د هغه پوائنټ جواب ورکړه چه هغه کوم کړے دے۔

<u>وزیر آبپاشی و آبنوشی</u>: هغه وضاحت دا کوم جی -----

<u>جناب اکرم خان درانی</u>: منسټر صاحب د دے وضاحت دِ اوکړی چه هغه رواج

به ورسره ختم شی او که هغه به بحال وی؟

وزیر آبپاشی و آبنوشی: زما خیال دے چه زما ورور، کله چه ما خبرے کولے نو به اوده وو۔ ما اوونیل چه کوم مخکښ سول کینالز دی، Kathas دی یا ویال دی، په دے باندے هم دغه شانتے به کارکیږی او کومه خبره چه محسن صاحب کوی چه دوئ په هغه وخت کښ Commitment کړے وو، تاسو پخپله باندے هم دا خبره Clear کړله چه ما خبره اوکړله نو تاسو پرے رولنګ ورکړو چه دا Premature خبره اوشوه، نو ستاسو د رولنګ نه پس د دے خبرے هیڅ جواز نه پیدا کیږی۔ زه درخواست کومه چه دا دِ هاؤس ته Put up شی او دا بِل د پاس کړے شی، Thank you

نوابزاده محسن علی خان: جناب سپیکر صاحب! Because a Minister has made a statement clarifying his position, I disagree with the statement he is making. میں یہ گزارش کروں گا کہ The record should be seen, the tape should be heard that what was the assurance given?

وزیر آبپاشی و آبنوشی: I never refuse that میں نے اس وقت یہ کہا تھا مگر آپ کی رولنگ کے بعد وہ بات ختم ہو گئی ہے۔

Nawabzada Mohsin Ali Khan: Mr. Speaker! you have given no ruling. Sir, if the Minister said he gave an assurance then the matter should go to the Committee.

وزیر آبپاشی و آبنوشی: زه اوس هم په دے فلور آف دی هاؤس باندے دا خبره کوم چه ما هغه وخت دا خبره کړے وه خو تاسو رولنګ ورکړو چه دا Premature دے او په دے باندے بیا دومره زور ولے ورکوی؟

جناب سپیکر: تاسو کینئ، بشیر احمد خان۔

وزیر آبپاشی و آبنوشی: On a point of order یوه خبره کوم که دوئ په دے باندے دومره Serious وی چه دا غلط دے نو پکارخو دا وه چه چرته کښ به نے پکښ Amendments ورکړی وو۔ دا دومره ورخے دوئ ته تیبل شوے وو، چرته کښ یو کس به په دے باندے Amendment ورکړے وے۔

نوابزادہ محسن علی خان: جناب سپیکر! جب ایک وزیر ایک Assurance دے دیتا ہے تو This thing will go to the Committee, then no amendments are given in the house. Those amendments are again given to the Committee when it is submitted to the Committee. We were under the impression that the Minister is an honourable man, he has given an assurance, the matter would be referred to the committee.

جناب فرید خان طوفان (وزیر خوراک): جناب سپیکر صاحب! منسټر صاحب ورته خبره کوی او ګرموی محسن، محسن ګرمیږی نه۔ د محسن طریقه کار چه کوم Confusion پیدا کولو، هغه پخپله لارے باندے روان دے۔ دوئ جی ما ته پخپله وئیلی وو چه زه د دے ماسټر یم، دا زما کار دے۔ دا خبره به خلاصه کړم۔ ما یو خل مخکښ هم تاسو ته وئیلی دی دا محسن صاحب په قلاره نه کینی، دے که دے طرف ته هم کیناستو نو دا Authority او دا National Drainage System به دے داسے Argue کوی چه دے به وانی چه دا د پاکستان په بهترینو مفادو کښ دے۔ دا ماسټر دے د دے ځیزونو، د دے وجے نه دِ غور د ده اوکړی۔

نوابزادہ محسن علی خان: جناب سپیکر صاحب! اس میں کوئی شک نہیں ہے کہ میں فرید

طوفان کا استاد ہوں۔ (قہقہے) جناب سپیکر صاحب! یہ جب بچہ تھا اور کالج میں پڑھ رہا تھا And he had contested an election اور یہ جناب سپیکر صاحب ' President elect ہو گیا تھا کرک کالج کا' اس کو بھی یاد ہوگا اور مجھے بھی یاد ہے کہ He asked me as his 'Ustad' to come and do his swearing in as President of Karak College and I sworn him as the president تو میں اس کا استاد ضرور ہوں -----

وزیر خوراک: یہ میرے باپ کی جگہ ہیں۔ (قہقہے)

Haji Muhammad Adeel: On the assurance, you said nothing, Mr Speaker.

Mr. Speaker: Are you going to accept him as your son?

Nawabzada Mohsin Ali Khan: Sir, I have always accepted him as my son, he disown me as his father.

میاں مظفر شاہ: د Assurance متعلق خبره کوم۔

حاجی محمد عدیل: پوائنٹ آف آرڈر ۔ Extra ordinary point of order ہے جی ۔ یہ محسن اپنے ایک بیٹے کے خلاف اپنے دوسرے بیٹے کو بھیجتا کہ الیکشن لڑو' بڑا نا لائق باپ ہے۔

جناب احمد حسن خان: نافرمانبردار کے خلاف اسی طرح ہونا چاہئے جناب سپیکر۔

میاں مظفر شاہ: ما خو جی هغه ورخ هم یو تپوس کړے وو چه تاسو چا له فلور ورکړئ نو بیا د پوائنټ آف آډر، او تاسو رولنګ) هم ورکړے وو خو ډیر قابل خلق دی لکه د احمد حسن خان، د حاجی صاحب غوندے چه ښه پارلیمنیټرین دی، دوئ راپاسی او هغه رولز Violate کوی۔ ما دا وئیل او

ستاسو نه رولنګ هم په دے غواړم چه لکه زمونږ معزز ممبر او ښه ۃ محسن علی خان پارلمینټرین، یوه خبره کوی د پریویلج متعلق چه دغه Assurance ورکړے دے، د هغه د پاره خو Proper procedure دے چه فر کړه که څه وی نو دوئ هغه ورکړی نو هغه سره به بیا وروستو گورو۔

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر! د هغه Proper procedure خبرے زمونږ دا مطلب نه دے چه خا مخا هغه د مونږه پریویلج کمیټئ ته اوغواړو، استحقاق پیش کړو۔ منسټر صاحب ډیر محترم سړے دے او زمونږه ډیر خوښ د۔ ډیر ښه او قابل شریف سړے دے او سپیکر صاحب، ستاسو په مخکښ یو خبره شوے ده، دلته کښ ئے Assurance ورکړے وو، اوس ترے هم انکاری نه دے او پخپله اقرار کوی، دومره معزز سړے دے۔ د خپلے خبرے نه تښتیدلے هم نه شی او بد پرے هم ښکاری که دوئ وائی چه دا ما نه دی وئیلی۔ د دوئ شانتے که سړے لکه چه دوئ دی نو هغه به دا وئیل چه اوس د دا کمیټئ ته اولیږی -----

وزیر آبپاشی و آبنوشی: جناب سپیکر صاحب! زه اوس هم دا درخواست کوم چه اوس هم دا وایم چه ما هغه وخت دا وئیلی وو خو تاسو د هغے نه پس یو Amendment وا نه ستولو نو زمونږ دا خیال وو چه تاسو دا منلے ده۔ په دے وجه باندے مونږه نن هاؤس ته راوړل او زه تاسو ته Request کوم For the--

جناب سپیکر: دا یو عرض تاسو ته اوکړم، میاں صاحب په طریقه طریقه کښ ما ته لږ غوندے دغه اوکړی چه دا پوائنټ آف آرډر یا په دغه باندے، میاں صاحب هغه پوائنټ آف آرډرخو ټهیک ده، چه داسے بعض وخت هم نه وی او زه نے پریږدم، ممبران صاحبان، خو هغے کښ چه دا وروستے کپ اولگی، دا اوس د

فرید او د محسن او دا بل او بل، دا مزه دِ چرته کتلے وه؟ دا هم پکښې شته کنه۔ هغه خو اوشی خو دا خوشحالی هم پکښې راشی، گپ هم پکښې راشی نو ستاسو هغه ټول Tension چه دے، هغه ختم شی۔ که په ما باندے د یو خل د Rules application شروع کړو، ما مه تنگوئ، دے ته مے مه جوړوئ۔ زه یوے خبرے ته نخلم نه او چه یو خل اونختم نو بیا ستاسو دا یو څومره Call Attention هم چه راځی، څومره ایدجرنمنټ موشنز چه مو راځی، خدائے گو چه په هغے کښې inadmissible % 95 وی نو بیا به ډیر Tight شو او بیا به را نه تښ) شئ۔ نو لږه گزاره به کوؤ تر څو پورے چه دا یوه خبره دِ اوکړه، دا د ډیره ښه خبره اوکړه خو زما خیال دے چه اپوزیشن هم هغه دا اومنله، هغوی دا وائی چه منسټر صاحب ډیر ښه سړے دے او مونږه ئے پریویلج کمیټئ ته نه راولو۔ خو یوه خبره زه اوکړم د اپوزیشن ورونړو ته بالکل بغیر د څه دغه نه چه دا کوم Discussion نن تاسو اوکړو، تاسو دا نه په کمیټئ کښې کولے شو او نه مو په بل ځائے کښې کولے شو او ستاسو د کمیټئ Disscussion چه تاسو د کوم Purpose د پاره As political persons کوئ ، نه د هغے څه اهمیت وو، نن چه تاسو ته کوم فلور ملاؤ شو، ټهیک ده، چه دا ستاسو حق وو، ټولو ته ملاؤ شو، عبدالرحمان خان هم پکښې خبرے اوکړے، تاسو ټولو پکښې خبرے اوکړے، د گورنمنټ د سائډ نه بل څوک هم پا نه څیدل، چا هم څه خبره او نه کړه۔ غنی الرحمان خان، تا ته مے خیال دے، تا ته به هم درکړم خیر دے، فکر نے مه کوه، ته په آخره کښې اکثر راپاسے خو خبره داسے ده چه که کمیټئ کښې یو څیز لاړشی نو هغه به هم، هغه کمره کښې به څه اوشی؟ او خبرے به وے او ختمے وے چه کوم د دے دغه اوشو د دواړو

ساندو نه، هغه وخت د پاره خلقو ته هم معلومه شوه، اخبارونو ته هم معلومه شوه، ښه او بد ئے هم معلوم شو۔ نو اوس به درته زه دا Request کومه چه هغه کومه مسئله وه، هغه حل شوه۔ اوس ښه په آرام که کمیټئ کښې په هر څه تاسو کړے وے او راغلے وے چه Majority څه وائی، سپیکر په هغے پابند دے چه هغے باندے به Decision ورکوی۔ نو که د هلته نه هم راتلے او که د دلته نه هم راتلے، هلته چپ په چپه راغلے وے او دلته به قصه اوس تاسو ښه دغه ملاؤ شو، نو ښه صورت به دا وی چه یو دوه منټه به دے غنی الرحمان خان له ورکړو چه دے هم د خپلو څه د هغه غرونو خبره اوکړی او بس باقی به ئے بیا پیش کړو او ښه په ورورولئ باندے چه څه دغه وی او چه څوک نورڅه وائی نو دِ اووائی۔ چه څوک 'Yes' وائی نو 'Yes' د اووائی او خبره به ختمه شی۔

<u>نوابزاده محسن علی خان</u>: جناب سپیکر صاحب! مونږه خو د بی بی ډیر شکر گزار یو چه تاسو غوندے سړے ئے سپیکر کړو کنه خو چه ته دومره لوئے استاذ ئے، چه دومره خوش اسلوبئ سره، جناب سپیکر زمونږه خو استاذ دے چه څوک هلته کښې کینی، زمونږ استاذ دے، دومره خوش اسلوبئ سره جناب سپیکر صاحب، You have disharm every body. مونږه خو د بی بی ډیر زیات مشکور یو چه ستاسو غوندے سړے ئے سپیکر کړو۔

<u>بیگم نسیم ولی خان</u>: محترم سپیکر صاحب! زه په دے ډیره خوشحاله یم چه محسن علی خو په څه خبره خو زما مشکور شو، چرته کښې یو نکته ئے اومنسته چه زما مشکور شو او چه هر خل پاسی، زما نوم اخلی۔ نن خو زما خیال دے -----

جناب سپیکر: ستاسو خو مشکور شو خو ما ته نے په پښتو کښې استاذ اوے، د هغه په مطلب باندے پوهه یئ۔ (قهقهے)

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر صاحب! د هغه نه چه تاسو کوم مطلب اغستے دے، نو هغه نه دے۔ (قهقهے) بالکل مونږ تاسو ته د احترام او د عزت په نظر کورو۔

جناب سپیکر: مسٹر غنی الرحمان۔

جناب غنی الرحمان خان: جناب سپیکر صاحب! چه کوم ټائم وو نو هغه ټائم د اجازت را نه کړو، اوس نے مزه تیره شوله۔

جناب نجم الدین: جناب سپیکر صاحب! ما یو عرض کولو خکه چه تاسو د انصاف په کرسئ باندے ناست یئ دلته کښې د جج په حیثیت باندے، که ستاسو خیال وی، منسټر صاحب چه تقریر کوؤ، پخپله باندے دے اړخ ته راغے چه بنچونه اوډزی، چه یو هم نه ډبوؤ او درے کسانو ډبولو، دا د عدم اعتماد خبره ده۔ اوس که دوئ بلِ پاس کوی نو دا د فلور کراسنګ خبره ده، نو د هغے نه ویریږی جی، نو د دوئ مرضی نشته دے۔ هغه جی تاسو جج کړئ د خان سره۔

Mr. Speaker: Since no amendment has been moved by any honourable Member in Clauses 1 to 38 of the Bill, therefore, the question before the House is that Clauses 1 to 38 may stand parts of the Bill. Those who are in favour of it, may say 'Yes' and those against it, may say 'No'.

(The motion was carried.)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it.

جناب پیر محمد خان: پوائنٹ آف آرڈر، سر۔ جناب سپیکر صاحب! ما سره د ووټنګ اوکړی۔ په دے کښ ډیر خلق دی چه مونږ له ووټ راکوی۔

جناب سپیکر: که تاسو وایئ نو زه به پرے Division اوکړمه۔

جناب پیر محمد خان: د Rule 214 (2) لاندے بالکل زمونږ سره دِ پرے ووټنګ اوشی جناب سپیکر صاحب۔ مونږ سره دِ پرے ووټنګ اوشی۔ ډیر زمیندار دا Oppose کوی، مونږ ته پته ده جناب سپیکر صاحب۔

Mr. Yousuf Ayub Khan(Minister for C & W): Sir, it is automatically voted.

جناب پیر محمد خان: سر! مونږ سره د ووټ اوکړی، ډیر زمینداران Oppose کوی۔ مونږ ته پته ده۔

وزیر مواصلات و تعمیرات: سر! ڈویژن کی کیا ضرورت ہے جب ایک Decision دے دیا ہے؟

جناب احمد حسن خان: ڈویژن کیوں کراتے ہیں؟ پھر تصویر اخبار میں آ جائے گی اور پھر یہ حلقے میں نہیں جا سکیں گے۔ چلو کھڑے ہو جاتے ہیں۔

وزیر آبپاشی و آبنوشی: آپ اپنی اپنی سیٹوں پر بیٹھ جائیں۔ یہ ان کی ذمہ داری ہے، یہ انہوں نے Accept کیا ہے۔ یہ تو ایسے ہی Confusion create کر رہے ہیں۔

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! رول 214 تاسو اوګورئ۔

جناب سپیکر: خا مخا که تاسو وایئ نو زه بیا وایم چه څوک ته په حق کښ وی، هغوی دِ پاڅی، Let it be clear. پاڅنی جی - Those who are in

why to create (شور) favour of it may _ why to create ambiguity?

ambiguity? (شور) دا خبره ده۔

جناب احمد حسن خان: خو سرونه نے ښکته کړی دی۔

Mr. Speaker: Please take your seats, take your seats.

اوس چه څوک نے Against دی، هغوی دِ پاڅی۔ اوس نے اوګورئ، Count نے کړئ، Eleven against. زما خیال دے، اوس خو څه Ambiguity به نه وی۔ پیر محمد خان! زه ډیر څیزونه ستاسو د طرف د پاره اوکړم خو تاسو نه منع کیږئ۔ پوهه شوئ۔

جناب فرید خان طوفان (وزیر بلدیات): جناب سپیکر صاحب! محسن صاحب بار بار پاڅی ستاسو په وساطت سره زما چونکه د خوش قسمتئ نه یا بد قسمتئ نه دوئ د کرک نه منتخب دی نو زما ورسره دومره همدردی شته چه تا څه لږ ډیر Links پیدا کړی دی نو ته ولے بیا لګیا یے چه هغه بیا خرابوے۔ زما معلومات دی، مونږ ټول په هر څیز باندے خبر یو نو داسے دی چه څیز برقرار ساته او غیر ضروری طور کنفیوژن مه پیدا کوه۔

جناب سپیکر: چل نے جوړ کړے دے هم تاسو ته او سیټ ستا والا غواړی ګورے، دا هم درته وایم۔ (قهقهے)

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! د دے نه پته اولګیده چه دے مینځ کښې خبرے چرته دے اوړی راوړی۔

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it. Clauses 1 to 38 stand parts of the Bill. Preamble also stands part of the Bill. The Hon'able Minister for Irrigation, NWFP, to please move that 'The North-West Frontier

Province, Irrigation And Drainge Authority Bill, 1997' may be passed. Honourable Minister for Irrigation, please.

Mr. Bashir Ahmad Bilour (Minister for Irrigation): Thank you. Mr. Speaker Sir, I beg to move that The North-West Frontier Province, Irrigation And Drainge Authority Bill, 1997 be passed.

Mr. Speaker: The motion before the House is that The North West Frontier Province, Irrigation and Drainage Authority Bill, 1997 may be passed. Is it the desire of the House that the Bill be passed? Those who are in favour of it, may say 'Yes' and those against it, may say 'No'.

(The motion was carried.)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it. The Bill is passed.

(Applause)

Mr. Speaker: The honourable Minister for Industries, NWFP, to please introduce before the House The North-West Frontier Province, Consumers Protection Bill, 1997. The Hon'able Minister for Industries, NWFP, please.

Minister for Industries: Mr. Speaker Sir, I beg to introduce before the House The North-West Frontier Provice, Consumers Protection Bill, 1997.

Mr. Speaker: The Bill stands introduced.

Nawabzada Mohsin Ali Khan: Janab Speaker Sahib, would the Minister kindly give us an assurance that this be sent to the Committee?

Mr. Speaker: This is not the stage, Mohsin. You give your amendments, when the stage comes then you can raise this point.

اب میں اجلاس سے متعلق جناب گورنر صاحب، صوبہ سرحد کا فرستادہ فرمان پڑھ کر سنا دیتا ہوں۔

In exercise of the powers conferred by Clause (B) of Article 109 of the Constitution of the Islamic Republic of Pakistan, I, Lt. General (Rtd) M. Arif Bangash, Governor of the North-West Frontier Province, hereby order that the Provincial Assembly shall on completion of its business fixed for the day stands prorogue on 8th July, 1997 for such date as may hereinafter be fixed.

اس فرمان کی رو سے میں اجلاس کو غیر معینہ مدت تک کیلئے ملتوی کرتا ہوں۔

Thank you ver much.

(اسمبلی کا اجلاس غیر معینہ مدت تک کیلئے ملتوی ہو گیا۔)